

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان «خادم»
د «روهی ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قيام الدين « خادم »

دپښتو ټولنې ددائرة المعارف دترجمې دڅانګې مدير

۱۳۲۵

دکابل

عمومي مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زیری

بلبلان پسی ناري و هی رحمانه !    دبهار گلونه شویدی که نه دی ؟

«رحمان»

* * *

دسوندك موندك سپلی اخری کیبزي    په بلبلو زیری و کړه : بیا بهاردی

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبلبل یا دبو را زده

«خوشحال»

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ:

# روهي ګلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړ بد لی
ستر ګي وخوره چه به دا ننداره نه کا
(خوشحال)

دا ښکلي ګلونه چه د ښاغلي خادم په زیار راغونډ شوي دي او د پښتو ادب مینانو ته د سوغات په توګه وړاندې کيږي ، هغه ګلونه دي چه پښتنو د پخوا نيو شاعرانو د زړه په وينو روزلي شوي دي .

ښه ګه چه تر اوسه پوري د پښتو ژبي په ادبياتو کښي داسي يو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلي خادم (چه د پښتو يو پیاوړی اديب دی) په دي کار ګوتي پوري کړي او بريالی شوی دی ، نو پښتو ټولنه داخپله وظيفه ګڼي چه ددی فاضل دا دستايلو وړ خدمت وستايي او په دي انتخاب ده ته تبريك ووايي او هم په دې ګلونو سره د هغو برد يسانو روح ښاد او ياد کړي چه دوی به د خوازه وطن په بېلتون کښي ويل :

قاصدان له روهه نه را ځي مدت شو
سلا م باد را رسوی منت ئي تم دی

او له خدايه غواړي چه داسي ډېر آثار پښتنو ته وړاندې کړي .

(عبد الرؤف « بېنوا »)
د پښتو ټولني عمومي مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چاته په مخکښې زدم چه تر هر چا
اوتر څه دروه په ګلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی        دادب دخاوندانو ؛ دزړه وینی

« خادم »

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوی څښتن حمد او ثنا وایو. او دده په حضور استاځی چه تر ټولو غوره دی؛ او په آل اولادئی، درود لېږو او ددې شکر کوو چه په لنډه موده کښې مونږ د خپل ملت (پښتو او پښتو ټولی) په خدمت کښې «چه زمونږ د مشرانو او خصوصاً د ګران ټولواک اعلیحضرت محمد ظاهر شاه رضامندی هم په دې کښې ده»
خومره چه کېدی شوه دغې نه ډېر کامیاب شو، یعنې په کوم وخت کښې د پښتو خدمتګارانو زیات آثار ولیکل؛ چه لنډه دغو څخه چاپ شوی دی؛ او ډېر لا پاتې دی په فرصت کښې به چاپ یږی او د ذوق خاوندانو ته به وړاندې کیږی.

یوله دغو آثارو څخه چه د پښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت. دا کتاب د ډېرو پخوانو هغو شاعرانو د اشعارو انتخاب دی، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږی، دا اشعار او د دغو شعراؤ دیوانونه ما په ډېر کوښښ پیدا کړیدی. او په ډېر زحمت سره می تری دا مجموعه جوړه کړېده؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې د نورو ژبو دیوې، انتخابا توته هم نده ورته.

او داله دې کبله چه د پښتو شعر او ادب ځانته روح او ځانته لاری لری. ما دغه روح او د غه اسلوب په نظر کښې نیولی دی؛ او هغسی می د کتاب د ترتیب نقشه جوړه کړېده. او بیا می دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره دا ده چه د تهجی توری یا د ردیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی؛ نو هر خومره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده؛ او دا د ادب او شعر د نزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده؛ هغو مره د ژوند او زندګۍ د اسرارو خزانه هم ده!

په دغه شان سره د پخوانو کلاسیکی شعراؤ شعر په شپږو بابونو ویشل شویدی چه په هر باب کښې فصلونه دی؛ او په فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دی. او د هر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلی شویدی. امید دی چه د قدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای و نیسی؛ او په درنه سترګه به ورته وګوری!

کابل - تسند وز سازی - قیام الدین خادم

# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه !		ستا په مینه په هر ځای یه
غر ولاړ دی درناوی کښېږي		ټوله ژوی په ځاری کښېږي
د لته دی د غر و لمنی		زموږ کنږدی دی پکښې پلنی
داو ګړی ډېر ګړی خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

دلته لنږ زموږ اوربل دی		ووړ کور ګی دی، ووړ بورجل دی
مینه ستا کښېږي مونږ مېشته یو		د بل چا په مله تله نه یو
هسک او ځمکه نغښته ستا ده		د مهر و وده له تا ده
دا پاڼه ستا ده خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

« بیټ بابا »

❀ ❀ ❀

پر لویو غرو هم په دښتو کښېږي		په لوی سهار په نیموشپو کښېږي
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښېږي		یاد وېر ژلیو په شپېلو کښېږي
ټول ستاد یاد ناري سوري دي!
دستا د مینې ننداري دي !

جنډی زرغون که په بېدیا دی		ډېر ښه خواته په خندا دی
ترنک چه خړدی په ژړا دی		دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکل دی ستا له لاسه
ای ډېرا سوالو پا سه پا سه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی		یا دسپوږمیه تندی ورین دی
که غر دی ښکلی پرتمین دی		لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا د ښکلا د اپلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

---

لغات : هسک آسمان . مېشته : ډېره . ځاری : عجز . جنډی : ګل . ترنک : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونېږی     دړوند وږمې پکښې چلېږی
بوراوې شا وخوا کړېږی     ستړ گی لیدو ته یې هیښېږی

لویه خاونده دا ټوله ته یې
تل دنړی په ښکلیده یې

خاونده! ښکلی ستا جمال دی     ښکاره یې لوری په لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړی کال دی     ستا دقدرت کمکی مثال دی

ستا د لور ونو یوه رڼا ده
دلته چه جوړه تماشا ده

زړه مې دا ستا دمینې کوردی     سوی دعشق په سوځندا وردی
رب یې وتاته په هر لوردی     بیله دې هیڅ دی ورک یې پلوردی

ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نه وی دغه نور بر باد دی

په غرو کښې ستا دعشق شپېلکی دی     ددې نړی په عشق سمی دی
که غټ که ووړ که پټه نری دی     ستا د جمال بحری هر شی دی

چه پردنیا مې ستر گی پرې شوې
ستا دجمال په ننداری شوې

نه هسک نه مځکه وه تورتم ؤ     تیاره خپره وه ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نی آدم ؤ     ستا د جمال سو چه پر تم ؤ

چه شو ښکاره ښکلی دنیا شوه
دپنځ پر لوری یې رڼا شوه

زه چه څر گند پردې دنیا شوم     د ښکلی مخ په تماشا شوم
ستا پرجمال باندی شیدا شوم     له خپلی ستنی را جلا شوم

په ژړا ژړام چه بېلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وگړیو ، ولې «متی» ژاړی     سوری یې اوری غاړې غاړی
څه غواړی، څه وایی، څه باړی     خپل تون او کورو کلی غواړی

چونی چه بېل شی نیمه خواشی
تل یې دبڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

لغات ـ هیښی : حیران ، تون : ځای ، چونی : بلبل ، بڼ : باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پرور بلبل دي عيش کاندی پر گلو
که مي نزمويی په ويالو دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا
چه مي نوی سر کوزی چاته بي ښکليو
اضطرا ب د حرص مي کړي له زړه گی لري
که مي نه فاشوي سر زيد و عمر ته
خو په گورم د قيامت و ورځو شيوته

چه خپل بر گټ په آب د چرخ نکرم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتا ب ولی
چه کباب يي په گرمی ، زما ځيگر شی

چه بلبل يي و ديدن ته انتظار کا
که مي نه محتاجوي د صبا باد ته
سر خرو يي زما نصيب لکه لاله کړه

په اوبو کښي يي د کاملی گوټ پيدا کړ
په سجود يي مځکي سردی لگولی

الله مي رب د ی زه يي مربوب يم
غرق په اوبو کښي کله اوبه وينی

د د ه په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار و ی نه تل خزان و ی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد ه د منکر تر سره پر يوځی
چه کشور د افغا نا نو معطر شی
الهی ! د خپل حبيب له بر کته

په دااور کښي دستی(١) سمند رسازرا
پروانه لره په اور ز ما گداز را
می د عيش په ميخانه کښي د مجازرا
د هغو بيمارو ستر گو نازو نيا ز را
له دولت د عشقه هسی کبر و ناز را
قنا عت قوی لنگر دد ې جها ز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښي د آغاز را
«عبدالمجيد مهمند»

د همت علو پشان د کهکشا ن را
د سحرپشان درست عمرسپين دامانرا
دلاله غوندی پهجام مئی جوشانرا
کاظم خان «شيدا»

نن و ماوته گلشن د هغه با غ را
بوی د يار د تورو زلفو په دماغ را
پرسينه له محبته هسی دا غ را
«شمس الدين کاکړ»

ده ور کړی پکښي اورلره مکان دی
هم يي زوړ ندپهر کوغ سره آسماندی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده يم که خوب نا خوب يم
نعمت يي نه و ينم په نعمت ډوب يم
«عبدالقادر خټك»

مستی خما ر شی خما ر مستی شی
هستی نيستی لری ، نيستی هستی شی
«خوشحال خټك»

د شبنم په څېر يي عمر يوزمان کړي !
د فلك په څېرمي توره د زبان کړی !
دهر بيت مصر ع مي زلفي د خوبانکړی !
دا : ساده انشار نگينه درحمان کړي !
«عبدالرحمن مهمند»

---

(١) په اکثرو نسخو کښي د (ستي) پځاى (سهى) ليکلي شويدى ؛ خو مونږ يې په معنى نيوهېږو «خادم»

روغي گټلونه (٥٢٥) ب سردار محمد : ح سراج الدين : ر محمد امين : ن محمد نعيم : ه اجرائيه پښتو ټولنه ليل ١٨ : -٨-٢٠-ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهی د مینی درد را      کرم د لا آهو نه سردرا
خلاص کړه ما له بې دردی      له دې هسې د لسر دی
زړه په شان د غنچې را کړه      آتشی زما مینا کړه

«کاظم خان شیدا»

پر هر چا چه حق یاد نشی ناتمام دی      پر کاغذ اول دده پښنا م قلم ږده

«دوات لوانی»

## ب : داستاځی په مینه

که رښا ده پیروی د محمد ده      گټه نشته په جهان بله رښا

«عبدالرحمن مهمند»

ړندي ستر گې چه د زړه مې پرې بیناشوې      یم پیدین د محمد آخر زمان خوښ

«عبدالعظیم رانیزی»

توره تاریکی تو له لدې جهانه لاړه      نوردپاك رسول چه په جهان کښې شه پیدا

«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ      چه مختارؤ خود په ستورو کښې مهتاب

«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له برکته      شوم لکه ذره هسې په نمر سره اظهار

«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی تو له له دې جهانه لاړه      نوردپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا

«میانعیم متی زی»

په زرگونو انبیا تردنیا تېر شو      محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې پټ گرځم دا زیږر خسار له خلقو      لکه زرچه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی      کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی
زه هر گوره خپل صنم پورې شرمیږم      برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږی      داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

که د سړښندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سړی بیدار کاندي لـه خوبه

دا په عشق کښې سهل کاردي دشوار ندی
کم اندیشه که بیدار دی بیدار نـدی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کاردي د سړو شونډو شیرینۍ وی
درحمان په عاشقۍ کښې سترګې وشوي

د خپل ځان په وینو سو رلکه انار شه
ځوك چه وایي عاشق ږوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نـفس لـه خاصیته منـز ه دی

کاردستر ګو به څوك څرنګ پدهانکـا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کېښود
دا باران نه دی چه اوری له آسمـانه

چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
د مرغانو په رحمـان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمـان مهمند»

چه په زړه بـاندی زرداغونه جوړ شی

چه دیـار لـه داغه آه کـاښه ګرم دی
«خوشحـال ختـك»

زه تر عشق جار ېږم : تر هغو چه عاشقان دی
رایشی له کومه ځای په څوو کـا په زړه کښې
هی دخدای دیـاره تفحص رایسی مکړه

واړه عشق یکـار دی حقیقت دی که مجاز دی
هیڅ پرې نه پوهېږم عشق یو څه سوز و ګداز دی
پلار ته وایه نشي عشق یو هسی مخفی راز دی
« خوشحـال ختك »

عاشقـان دعشق له کاره انکـار نه کا

فاسقان به په خپل زړه کښې اری غلا
« خوشحـال ختك »

ځینی هـوس کـامینـه پـه بـاغ لـری
داد واړه ګرو هـه بوالهـو سـان دی

ځوك می پـر ستـه حب دا بـاغ لـری
عـاشقـان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقـادر ختك »

لیونی غوندی دعشق په کـارو بـار کښې

د خپل ځان په سودو زیـان نه یم هر ګـز
« عبد الحمید مهمند »

که هر څـومي تندتیزه تـوسن دعقـل

عـاقبت شوپـه دنبـال د مینـی پـا تـی
« میـا نعیم متی زی »

دعشق یوسبق کـافی دی

نور ددرست جهـان دفتر هیـڅ
« صدر خان ختك »

عـاشـق ګـرم او شوقـی وی
چه دعشق پـه لاره درو می

زاهد سوړ بی حمیتـه
خالی ندی لـه تهمتـه
« دولت لوانی »

خام خاطر مې مشوش و په هجران کښې چه تمام دعشق په اور وسو متین شو
«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو عشق د عقل پلارو مور دی
«مرزا خان انصا ری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شیدا شو دعرب په مینه گو ره چه عجم مری
«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی ودریاب ته ځی که سیل له هر جا پاځی
« مرزا حنان»

په هرداغ می دخپل زړه هسې باوردی چه په مرگ به راته شمع شی په گور کښ
« عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خپل ځان دعشق په توره نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی
« عبدا لعظیم را نیزی »

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم عشق را هسی گرم هم نرم هم لطیف
آئینې غو ندی هر و لی هر نا و لی شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف
« شمس الدین کاکړ »

هر یو زړه چه شی پیدا غه پکار نه دی چه بی مهره شی برات هغه باطل دی
« مرزا حنان »

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوې په سراب دځان مشغول کړ ، له دریابه
هغه چاری چه دعشق په جذبه کیږی کله کیږی په لښکرو په افواج
« خوا جه محمد بنګښ »

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه
بی ر فیقه ، بی پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه
هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپردادو فریاد کړم
ځکرم چاو ته فریاد کړم ، نیکخو اه نه لرم بی عشقه
مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وینی به تل څښمه
ځکړم ځکرم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه
معتقد پدا خپل رزق یم ، مبرا په زړه له فسق یم
واړه سرتر پا په عشق یم ، یو گاه نه لرم بی عشقه
دافقیر دولت نفی یم ، و گناه ته هوسی هم
خدای مې بیامرزه عاصی یم ، گناه نه لرم بی عشقه
« دولت لوانی »

عشق دی دا که یو فساد دی نه پوهیږم په جهان کښې چه د اشورو شر پیداشه
بیا به روغ دعاشقی له رنځه نشی په هر تن کښې چه د غه ا ثر پیدا شه
« عبدالرحمان مهمند »

باد شا هانو که قصرو نه کړه آباد    ماد عشق عمارتونه کړه آ باد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسې یادیږي    لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسې پیر استاددی    چه به نه دی بل دا هسې پیر استا د
دغه واړه کرامت د عاشقی د ی    چه څوك غوث کاندی، څوك قطب څوك اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

د رحمان شراب له عشقه    نه انګور (۲) نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی    چه یه اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو کل ستر ګی په نم کښې    عشق راو ښود بحروبر په خپل حرم کښې
« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهیږم    خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهیږم
د ښنګک او د بلبل ترمینځ حیران یم    مخ دې اور دی که ګلګون دی نه پوهیږم
عشق په هسې رنګ مقام باندی قائم کړم    چه وصال دی که بیلتون دی نه پوهیږم
د رحمان څهره یې زیړه زعفرانی کړه    خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهیږم
« عبدالرحمان مهمند »

خود څر ګندوی لکه صبح په جهان کښې    هر ګوهر وان چه په یارۍ کښې دریده شی
بې مطلوبه بې هیڅ فهم په چا نه وی    هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی    هر کلام چه له رحما نه شنیده شی
« عبدالرحمان مهمند »

سر او مال مې شو تالا په تور د عشق    لا مې ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه    پوهېد لی په تدبیر وم د د بیر کیج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې    د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کیج
راهبران دعقل واړه رهزنان د ی    لنږ د عشق له لاری مه بیا یه بهر کیج
« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه    مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی تا صحه ا    دا عبث دی یول د سحر په دریا زدی
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی    په دې ناوې نه جوړیږی پسول د چا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنونو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی، د جمله ؤ مخلوقا تو پلا ر دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته ترهمه کارو نو غوره کار دی دا

« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی یاعاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ز غوري سرومال په عاشقی کښې عاشقی دا هسی کله ده ویړیا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو نظر نه کاندی په کسب د کیمیا

« عبدالرحمان مهمند »

بیدردان دعشق له درده خبر نه شول براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم

« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که او ر دی دا یه اور سوزم یه رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی واقعی د تورو ستر گو تور دی دا
چه یی زه له بله غمه په امان کړم دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې لیونی د مجنون کشر و رور دی دا

« عبدالحمید مهمند »

یاد شکلیو دپا ولیو شرنګها ر دی یا د عشق د لیونیو د ز نځیر

« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق پهلاره گران دی دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك

« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی ر هبر پیر کامل دی عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا

« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زړه په عشق کښې نشته سرله سره خوب محال په هغه ځکه چه توده شی

« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی باندي شوی هغه زړونه گویا کانی د بیدیا دی

« ملا جمعه »

# عزلیات

که څوك یار به جهان غواړی یار دی دا    یار دی دا که دجهان سنګار دی دا
خیال دز افوی زما له زړه چا پیر شو    که تر ګنجه چا پیر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدا ی له عشقه پیدا کړی    د جملو ؤ مخلو قا تو پلا ر دی دا
تر عشق غو ره بل څه کار په دنیا نشته    تر همه کا رونو غو ره کار دی دا
بل ببلبل به د ګل نوم ا خستی نه ؤ    که خبروی چه ګل نه دی خار دی دا
بیا را تله و دی جهان ته بل وار نشته    بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمر دي و ګو ری چه څه دی    که څوك شمار کاندی دعمرشماردی دا
د مجنون صورت به زړه کړه رحمان ګوره    ستا به عشق کښې همی خوار زاردی دا

« عبد الرحمن مهمند »

چه یې و لید و ستا حسن بې حساب    له دي قصد ه تاو پیدا شو د آفتاب
به آرزو یې د نر ګس ستر ګی څلور شو ي    غنچه سره دزړه به و ینو شوه غرقاب
ستابه غم می دواړه ستر ګي سري ناغي شوي    که خیمی د ی سیاه پوشي سره طناب
که دي زلفي به مخ پیچ وتاب شوي ښایی    وبښته څه طا قت لر ی د اور له تاب
در حمان بخت به هله له خوبه ویښ شي    که ستر ګي ورته پورته کړي له خواب

« عبدالرحمن مهمند »

که ساقی تلخه با ده در یا ی شور کا    د فلك په جام به مست کله مخور کا
آرا سته وی تل محفل د خند ه ر و یو    زمانه به د ګل جام څرنګه نسکور کا
چه به لاس کښې یې تل چوب لکه شانه وی    بی افسونه به نیو ل د تور منګور کا
د لتنګی کړم لکه ګل به خندا ور که    که می بل دصبا باد به خونه او ر کا
چه به سر یی سبز آسمان زری دستار زدی    اقبت یې لکه شمع بیا سر تور کا
لکه ګل کړی ګران بار تر دا منځی    باد دي څه لکه غبار به کتف سور کا

« کاظم خان شیدا »

که ښکا ره زما خا طر د لاله داغ کا    به ژړا به ستر ګي سري د ګلو باغ کا
د حباب غوند ی مي ډك به آه سرد کړ    څوك زما به ګور به بل څرنګ چراغ کا
افرو خته یو و ی محفل به شان دشمع    چه سوخته دبل به کار کښې خپل دماغ کا
د ګر دش نو بت یی هیڅ به ما د ا نشی    که سا قی د ز ماني ، فلك ا یاغ کا
زنګ که هر کله «شیدا» دتیغ جوهر خوری    دمګس به بال به څرنګ استفراغ کا

« کاظم خان شیدا »

چه می ولید ه ا برو به مخ دیار کږ    له تعظیمه ور ته زه شوم به تلوار کږ
کږې ورو ځی کوږ با نه کږې یی ز لفی    منا سب دی له کږو سره رفتار کږ
مار به دا سبب مد ام کمر فتا ری کا    چه یی ولید ه دا ستا د زلفو مار کږ

هسې ژړا خلې اتر له همنشينه   په سبب د كنزي ينبي شى سم بازار كيځ
چه معما ري اول خبته كنزه كښېنږ دى   بيا ترسره پورى ځى هغه ديوار كيځ
ژربه وا چوى بار دار چار پاى په خا كښې   كه يى يو ځله خوك وشكوى مهار كيځ
هيڅ جواب د پيغام نه را ځى ديار ره   پسى زما شوه توړليمه په انتظار كيځ
« شمس الدين كاكړ »

خوږ ژوندون راپوري هسى كړ هجران تريخ   لكه حال وى پربند يانود زندان تريخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد و دى   پرسبزه باندي نا وخته وى باران تريخ
په وصلت كښې له رقيبه نه خلا صيږم   پرموسم د ګل اوقات شى دباغبان تريخ
مى حرام دى په مجلس كښې چه يار نه دى   بى له ګله وبلبل ته شى بوستان تريخ
چه مى نوم ستا د هجران په ژبه وا خيست   لاتر اوسه مې په هغه دى دهان تريخ
كه فرهاد ته شيرين غم د شيرينى دى   داستا غم كړ شيرين عمر پرحنان تريخ
« مرزا حنان »

چه مې يار وليد په سينه د اغيار ګه   له غيرته مى ليمه شوه په خو نبار ګه
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دى   خداى دنه كا مبنګير كى په لاله زار ګه
په اميد د زلفو و نښتم په دام كښې   رو هيلى وم ساده دل په هندو بار ګه
دديدن په ګدائى كښې مې ننګى نه شى   دروېز ګريم د بتا نو په با زار ګه
د وفا د ګلو پيا نى پكښې نشته   كاشكى نه وى زه ددهر په ګلزار ګه
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص كړم   چه په كلى په كوڅه شوم د خپل يار ګه
« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط را غى په مخ د ګل عذار   كه غا لب شوه په كشمير باندى كفار
سپين رخسار يې په تور خط كښې هسى پټ شو   لكه پټه چه معنى وى په اشعار
زما نه په بى سپين مخ دا هسى تور كا   چه غرض ارى د بل په كا رو بار
هر كارساز نن په خپل كار كښې درمانده دى   اوبه كله وداى شى ګرځ دخپل رخسار
« شمس الدين كاكړ »

او ښو د فراق دستر ګو خواب را خخه يووړ   كور زما دصبر دې سيلاب را خخه يووړ
رنګ په رنګ ژړا كړم لكه نى ديار لغمه   زړه مې په يوه نفس احباب را خخه يووړ
نه مې را برسېره كړ ګوهر دعشق له بحره   زيات يې لاارام لكه حباب را خخه يووړ
تل چه يې هوس كاندى سره لاس وخونريزى ته   سري د هغو ستر ګو قصاب را خخه يووړ
يو طرف ساقى شو بل طرف شو جام دميو   عقل يې له ميانه په شراب را خخه يووړ
وا چولم يار د جدائى په سره ديګ كښې   روح يې زما دځان لكه ګلاب را خخه يووړ
هيڅ يې نظر ونه كړ زما وخاكسارى ته   زړه مې سيا چشمو په شتاب را خخه يووړ
سينه خوله ديار چه په خواست زه شمس الدين غوا ړم   خواست دهري ورځې دمخ آب را خخه يووړ
« شمس الدين كاكړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما زړه گوره چا یووړ  په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه د ی شوبی ارامه  چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم  زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر گو  سیلا بو د ژړا یووړ
څه بازار چه مي د زړه ؤ  حسن ستاحسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ  ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه میننه نه کړم  زړه بیوا که شهپا یووړ
قراری دزړه مي نشته  بیقرار زلفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا  احمد غم دا شنا یووړ  «احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افگار ساتم همیش  هسي په سینه کښي گویا مارساتم همیش
زلفی دي سنبل مخ د گلاب سترگي نرگس دی  زه بانديي باغبان یم دا گلزار ساتم همیش
داله تلو سي نه چه پرقلب می پیرزو نه شی  ځکه په ځیگر کښي ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر بیزی چه مجلس لره ور دروم  پس له دي به زه نور ځان کنارساتم همیش
عکس درخسارچه دي زما په زړه کښي گرزی  زه په خپل ځیگر کښي سورا نګارساتم همیش
زړه مي ستا له غمه همیشه آه و فغان کا  زه په خپل وجود کښي دابیمار ساتم همیش
سترگي مي څلورشي ستا پرخواچه وعده وکړي  زه حنان له غیرو داستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کښي  داېي غایب په خوله کښي زیب کا که ژاله شوه په لاله کښي
هسي رنگ سحروجادو کاپه نظر د شهلاستر گو  نه یي سیال په هند کښي شته دی نه ثانی په بنگاله کښي
لکه وتښلی مرغۍ په سست دام د سلو لومو  هسي زه پر ښانو زلفو کښي یستم په کشاله کښي
دازما له غمه شین زړه یکښي خیال د یار دلبر  هسي رنگ زیب وزینت کالکه می په شنه پیاله کښي
ما ویل عین گل دی دغنچي په لمن لښتي  کهمي کوت یو گل اندام وپروت په سبزه دوشاله کښي
شکلی مخ کا ولي ناسته ، په مجلس د رقیبانو  په جوار دسپو کښي نه وی هیڅ ارام په غزاله کښي
سترگي یاپه تیغ دهجر لکه نی سوری سوری کړم  ځکه یم مدام داهسي په فریادو په ناله کښي
که یار غواړدي هومره ژاړه خودرځی عبدالحمیده!  دایه دا چه درمونده شي په دریاب نه په ناله کښي
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسي دیوا نه او مجنون چا کړم  له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه یوهیږم چه داهسي چاري څوك کا  لیونی د خپل نگاه په افسون چا کړم
کومي سترگي کوم بانړه کومه غمزه ده  دوب شهید غوندي په خاکه اوپه خون چا کړم
نوان توفیق چه دفتنو را څخه نه ؤ  په فتني د تورو سترگو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم  چه دا هسي رنگه زبون اومحزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند»

زه دیدار په دردوغم کښي شاد مان یم  لکه گل دبر ښانی په وخت خندان یم
نه زما و بیکسی ته نظر مکړه  خدای ساتلی لکه گنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنگل په میوه پوره  په ویرا نه ویرا نی کښي ابادان یم
پوره ښته مي دصورت بی عشقه نه دی  څو کیدار په هر نفس دخپل کاروان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دو صال مارغه داو ښو دا نه راکړه　　لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم
د کاملې عقیدې له بره کښته　　دروهی په غاړه ناست شاه جهان یم
روښنائی مې په طلب کښې شوه حاصله　　شپه او وروځ لکه آفتاب په لار روان یم
چه صفت دتو رو زلفو د اشنا کړم　　بلی ، سر په لو یه لار د هندو ستان یم
بی مینه مې هیڅ حال د صورت نشته　　لکه بې مال ومتاعه تش د کان یم
دهوس بلبل ویسا را بانډې نه کا　　دافلاس په کښل بېو تې د خزان یم
دلبرانو ته خاک تر تلی لا نه دی　　د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیار په دیدن سرو مال ښندمه　　خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم
«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار په درو غم کښې غرقاب خوښ یم　　په دااور کښې بیطاقته بیتاب خوښ یم
تر داپوچی گفتگوی چه زه یې اورم　　په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم
چه دیار دخط وخال ښې پکښې وی　　زوړ ند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
د ریا تر نا قبو له عبا د ته　　دسافی په میومست او خراب خوښ یم
چه نه علم نه تسبیح نه تلا وت وی　　له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم
دطوبی دونی سوری مې خوښ نه دی　　ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم
خاموشی که هر څو لو یه مرتبه ده　　زه دیار سره په سوال وځواب خوښ یم
دیار دېرې غمخوری یم عاجز کړی　　رحمان څکه په خوردن دشراب خوښ یم
«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم　　هم په دا ښو دبد انو تو ز لیمه یم
له هغو مې څه اندوه چه په خوی اوردی　　په خپل خوی کښې سوځ اونرم تراوبه یم
چه وماته وزما عیب پښکښ را وړی　　ددی هسی یار له خدا یه په غوښته یم
نور زما دی ، نار زما دنورو څه دی　　دیتنگوغوندې مخ خبر دځان په سوه یم
په ایرو یې مخ سپیره شی چه نفاق کا　　آینې غو ندې مخ سپینه تور په زړه یم
چېرې نه وی چه به بل مخ وته گوری　　په هجران کښې خوښ دستر گو په واته یم
له نور چا کله گله عبد القادر کړم　　زه خوار کړی خپلو ستر گو یم خپل زړه یم
«عبدالقادر ختك»

مخ دې لکه نمر دې ورته څیر کتلی نه شم　　څکه یې دمدحې ترعهدې وتلی نه شم
زړه یې راغلبیل کړ دهجران په ناو کیو　　راز پکښې دیار د محبت ساتلی نه شم
اوس مې په معنو کښې ښه مین دستر گو کسی　　کسی به د خلقو په ویل ایستلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې د زنخ په څاه کښې بند لکه يوسف کړم
بند يې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

بې يې د زلفينو درسی ختای نسه شم
زده مې پر واز غواړی ولې الو تلی نه‌شم
«عبدالقادر ختك»

د خپل يار له مينې هسې ديوا نه يم
که بې آهه بې نالې بې زغه سوزم
دخال خيال يې ماضعيف لره کافی دی
چه يې خيال ساتم د سرولبو په زړه کښې

چه خبر نه په کعبه په بتخانه يم
پر څراغ دمخ يې څنګه پروا نه يم
دمينې په دود قانع په لبز دانه يم
دا په دا مدام د لعلو خزانه يم
« مرزا حنان »

په جنت نه يم خوښ هر گز په درد يار مې قسم
زړه مې له نا وعده ء د وصل هر گز و نه ليده
پر وايه گل ويه خار نـکړم د جنون له فيضه
که مې سرولاړ شی ستا په مينه لا خوشحاله يم زه
تور بخت مې و نه ليده هيڅ ستا د کټا ګل شب قدر
ستا د گلگون رخساراه شرقه زه حنان دا وښو

خوښ په لذتيم دخواری ء په اعتبار مې قسم
په نااميدگی ء دتورې شپې دانتظار مې قسم
په سينه صافه آئينه د نو بهار مې قسم
په تېره تيغ داستاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مينګو ستا دزلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړی ء په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

زه چه مين د يار پر مخ يم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړې دعفتی ترميان کړې تېر گلونه
رضا د ځان مې په رضا دخپل اشنا ور کړې
چه مې زړه وړی په منګوله هغه يار دی زما
که د وصال په هوا را شی يـکـتنها دلبره

تماشه بې ديارله مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله نش دخوابې خالی اقرار څه کوم
دا که مې تول ديار په لاس دی خپل اختيار څه کوم
نور حسن داره بی له ده دقندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه په د ربار څه کوم
« جمعه بار گـزی »

سپين رخسار دې وای سپين صبا شو قم
د صبا او د بيګا تر منځ حيران يم
سېر ينـدې څوندې قی کړی کوامې ناست يم
گنجينه شوم ستا د مينې له دو لته
چه ميرا در سره نه وی قلند ر ه !
قلندر په کومه يوزه لاړ شی صوات له
د ميرا صاحب له جوره قلند ر ه !

تور کـا کـل دې وای تور ه شپه دتم
نه پو هېږم چه عـمر و کړم په کم
دهجران لاس مې و کـاږی زړه و بم
اژ دهـار را بـاندې ګرزی دمبدم
ته چه صوات لره ورځې عذردی کم
چه ميرايی همراه نه وی هوس کم
دا يو ، لاړو ، ا لسلا م عليکم
« قلندر »

مغنی گوتې په څېر ز دی په بم هم
ستا دعشق دغشی هسې ځای برهار د ی
ستا د ز لفو مار چيچلی نه ر غېږ ی
تاچه مخ ور ته ښکـاره کړو ليونی شو
هغه را ز د محبت چه پټ له تا د ی
دخوښیء پياله په لاس کښې نن زماده

هم سـاقی شته هم بهـار و صنم هم
چه ريښه پرې اينـودای نشی مرهم هم
په ستا نو به زيـار تو نو به د م هـم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
ز ړ ه خبر ور ځنې نشو قـلـم هـم
درد ز حمت را څخه و تښتېد ه غم هم

به لذت دي دسروشرنهو کوثر هیڅ کړ
د یوه لاس نقاره دا سی آواز کا
که ناستي دیار کوی به خاورو مو می

د شبنم دا نه که تخم شی د ګلو
چه یی نشه لکه ګل ښه رخسارو نه
حال دسوی طالع څه بیان کړم چاته
معطل به عارضه د شام غریب شی
داسمان په شان یی تیز دقتنو تیغ کړ

پسرلی مي دخزان په تالار تیر شو
اوس که ځان وهم که خاوري په سر اونم
لا مي غټوره ته په خیر کښلی نه وو
لکه پیر پری پیکر هم پری رو وو
بوه ورځ به دا غنځ و شی عابغا نه

بی له یاره راښکاره ژوندون ذبون شو
چه دعشق په مکتب داغ داستان اوست
دقلم په دود به چا که سینه ټی کړم
دحسرت ګوتي به غابش کړی طبیبانو

سور پیزوان د به سروشونډو هسی زیب کا
دسرو ټیك دشهزاده په جبین پروت دی
دواړه لیچي دي وښکلي مصری نوري
ستاله غمه به ځان زړه در حمان سوزي

پارسائی یی د پارسا له لاسه یووړه
چه مي کړي وه توبه له مي خواري
معجزه چه د احیاده په دوه لب یی
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتي دا یوه مسلمانی وه
ماوي زړه به دعشق راز لرم په زړه کښي
چه دزړه صبر دیار له سخه غوا ړم
که دنور و هوښیاری په عشق کښي پس وړی

د حیات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټك »

زړه به سوړ به دیدن نشی د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبین دی د داغلو
که مي زړه په حلقه بند شو د کاکلو
صبح وشام ګرزی ښکاره په سرومنګلو
« کاظم خان شیدا »

ملا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تیر شو
په هیڅ رنګ په بیرته نه رازی وار تیر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تیر شو
هم هغه رنګه تیز روبری وار تیر شو
چه فلانی هم لکه ګردو غبار تیر شو
« علیخان خټك »

اشتیاق مي دزړه مرګ وته افزون شو
هك حیران زا ته فرهاد دویم مجنون شو
دمرجان په طور روینی مي لړون شو
له قانون اوله شفی رنځ بیرون شو
« حمد »

لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو
شینکی خال دي محاصل په بند یوانو
در پوهیږم سر به پرې کړي دخوار انو
لکه شمعه په زیارت د شهیدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائی ئی د دانا له لاسه یووړه
په چشمانو یی زما له لاسه یووړه
لاس په لاس دمسیحاله لاسه یووړه
دا دعوی یی دهرچاله لاسه یووړه
دا مي هم هغه ترساله لاسه یووړه
دا خبره مي ژړاله لاسه یووړه
محبت مي دا دعاله لاسه یووړه
دخوشحال یی لا په خواله لاسه یووړه
« خوشحال خټك »

ستا د زړه سختي مې سر تر پایه و لید نه
سنګ به سینه دوړ کړي ستا له هسې سخته دله
نو ره دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه
وار په وار مې واده په دلبرو و بښند له
یار مې هغه وخت وي چه په شپه په سره ناست وو
شمعې به ژړا کړه صراحي به خند پد له
ګل چه شګفته شي عندلیب باندې ناري کا
نشته پوه ښکلي چه ږي و بو لم بد له
تل ګونه و هلي هر زمان ساږه اهو نه
ما چه عاشقي کړه خود به ما به دا کېدله
سري لمبې بې بلې د خوشحال ختک په زړه کړي
سور خت یې اغوستي به دا لاري تېر بدله
«خوشحال ختک»

مست یم مې پرست یم رندي کړمه کړمه کړمه
واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
نور شراب مې واږه تور عالم وته بخښلي
لام و ي مي محادلي پسې مرمه مرمه مرمه!
موږ به څښي نه شم زه د میو مستسقي یم
تل که هسې د کي پیالې څښمه څښمه څښمه !
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
زه چه په دا هسې لاري تلمه تلمه تلمه!
څه وایې وماته حال د څه؟ په هجران کښې
نور خبر دار نه یم په زړه سومه سومه سومه !
خلق راته وایي رنګ دي پیاز یړ شو عاشق شوي
هیڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شومه !
دور د عاشق دادي چه په عشق کښې ملامت وي
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال ختک»

توره چه تېر یېږي خو ګذاره اره کنه !
زلفې چه ول ول شي خو خپل یاره لره کنه !
ولې راته وایې چه په ښکلو نظر مه کړه
سترګې چه پیدا دي خو دیدار لره کنه .
شیخ دي نمونځ روژه کا زه به د کې پیالې اخلم
هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه!
نا وي چه زما د خولې بوسه لکه دا روده
غواړم دا دارو د زړه پرهار لره کنه !
وینې مې د زړه خوري مګر نور څه لره نه دي
زړه زما پیدا دی تا خونخواره لره کنه !
څه ژړا فریاد کړي دښې د تورو زلفو
نو ور تلي پخپله دي ښامار لره کنه !
خو د به ستا د مخه د ګیاه غوندي خر کندشي
ګل د لاله را وړه خپل رخسار لره کنه !
مې شته چنګ وني شته د خپل یار سره خوشحاله؟
خپل باغ په لاس کښې ځه ګلزار لره کنه!
«خوشحال ختک»

که مخ زما د یار دی نمر خو هسې وی کنه!
لکه زه په عشق کښې زبریم زیړ خو هسې وی کنه!
دعالم دبري خبري اور به اورتوري لښکر یې
زړه مې نه خوځي له ځایه غر خو هسې وی کنه!
بې دعشق له شور و شره چه هر ګز زما له سره
نه ځي نور څه هر څه دروي سر خو هسې وی کنه!
چه یې رېبم عمل لاکا چه یې ورك کړي ځان پېدا کا
ورځ د شپه دا هسې کر کړم کر خو هسې وی کنه !
تاوې دروه او مې زبر کړه بل سبق له زړه بدر کړه
تل مې ته یې په خاطر کښې زبر خو هسې وی کنه!
وهغه ته مې سر کوږ دي چه معلوم ورته رموز دي
په خبره نه پوهیږي خر خو هسې وي کنه !
چه آزاد مربي ور درومي خپل مراد ورځني مومي
په هیڅ بندي تړلي ور خو هسې وي کنه !
په یوه زمان تنیار دورشي راشي څو ګذاره
د خوشحال خاطر تېز بردي پر خو هسې وی کنه!
«خوشحال ختک»

د وفا خبر پیدا ران دی بل خوا دروهی
مگر ځان وسپاری خدای ته په امان شی
هغه یار به زه و ګرمی خواته غوادم
دلبران که هر څو ډېر دی په جهان کښې
چه هم قد لری هم زلفې هم سرې شونډې
عشق عاشق لره یو هسې گلستان دی
که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق شی
دا ناپان به د رحمان په قال پوهېږی

ستا په مخ کښې چه حساب د جمال نشته
ته د سرود مال وپېره په ما مکړه
روښنائی می د چشمانو ستا دیدن دی
په جو پېار زما دستر گو سروته یی
مخ دې بې له خط وخاله هسې زیب کا
ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی

گنج و عقل زار شه د عاشق د خاځکی او ښې
تیغ دیار له لاسه په مری دعاشقانو
خدای لره په ورسم په سودا دیار له مخه
څه که زاهد زهد کا دپو جنت دپاره
گوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه

په گلونو اواز ورو کوه بلبله !
عقل وهوښ عزیز تر هر څه بندل نه شی
خدای دې ه کاچېرې چوخ بودې په بېهوشی
ومطرب ته مینا وا یی وایه و ایه !
صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه

وینځه که اصیله وی که توره وی که سپینه
شهد که څه نبات دی که شته شیرینی نوری
خیال یی د زلفینو لکه مار ورباندی پروت دی
سل زخمه که وخوری توی به یو څاڅکی پری نوځی
خرب به یې بدل په بیداری خوښی پری ویر شی
یار په هوا دندی که د زړه مینه پیدا کړی !
څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایی

دا متاع د زمانې په دکان نشته
گنه بل خوا ته د هیچا امان نشته
چه یې هیچېر پې منزل او مکان نشته
زما یار غوندې د نبر په جهان نشته
دغه هسې رنگ آفتاب په آسمان نشته
چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته
داته کار د هر نا اهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

څکه ما څخه د صبر مجال نشته
وېره ما څخه د سر او د مال نشته
په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په دا نهر باندی بل څه نهال نشته
چه یې هیڅ حاجت په خط و په خال نشته
چه په زړه کښې یې نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

نه خروار دعقل سه د عشق یوه دانه
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه
بل مقصود می نشته په کعبه په بتخانه
سر بښند لې نه شی په ور بل د جانانه
مکړه دا د عشق خبرې مې ستا رندانه
«عبدالرحمن مهمند»

پر پښا نه پېږی ستا د شوره له غلغله
ته یو څه رنگه ډېر گران یې دملجله !
قدم ورو ږده دراپیلو په گل گله !
دا معنائی پیدا کېږی له قلقله !
څه قدرت لری چه وایی اودل دله !
«عبدالقادر خټك»

کښلې شی له حورو چه پرې ورشی د زړه مینه
مینه که ئې گوري چه تر هر څه ده شیرینه
نه پرېږدی و زړه ته بله مینه چه ور ځینه
هسې رنگه و چه د صورت کا مینه وینه
هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
مینه هسې څیز دی چه نه زدې لری گوینه
څود ې لاو سجاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له خپله اشنا نه لری گډه
له نور چا به په نور څه لری گله

انگوری ترخه شراب ور اره بویه
میخواران له گبینه لری گله

چه بې تا یې غروم د بل و مخ ته
په دا خوی له ما نیمه لری گډه
هیڅ ایستادي بکښې ونکړتري پرېوت
له ناوکه یې مې زړه لری گله

چه جارو مي ستا د در د خاورونکړه
ډیر زما له ما بیا نه لری گله
بد و بدو ته ښکاریږی ښه و ښه ته
ښه له بد و بد له ښه لری گله

ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ
بیا تري ولې یار له ده اری گله
«عبدالقادر خټك»

ننداروله راځی چه پسې ځو نه
په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه

ته به وایې مخ یې گل د پیغمبر شی
چه یې د په په مخ ووهی خالونه

چه په سیل د بهار د گلو گرځی
ځلمی گل به پگړی زدی په اوربل جونه

ځینی دواړه زلفې ډکې کا له گلو
خوك په غاړه د گلونو کا هارونه

زیړ او سره نمری اغوستی گلرخانو
وا یې سبز و نې و نیو ل گلونه

چه گلو نه آولوی سندري وایی
شرمنده کا د بلبلو اوازونه

درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا
په دغه ځمکه چه کیږدی قدمونه

چه له سیله را روانه شی و کورته
گل لمن، بلبل یې نیسی آستینونه

چه له هسې ننداروه نه ځان وباسي
شیخه ورك دي شه بیو خته خلوتونه

له لیدل د ښایسته ؤ بکښې نه وی
چا به څه کړه اته واړه جنتونه

که اوازدی کهلیده د روح خوراك دی
نفسانی دي باندي نکا غرضونه

تېر شو وار عبدالقادره! را به نشی
که زړا کړي که فریاد کړی که آهونه
«عبدالقادر خټك»

څه افسون دي په ما وکړ پریزاده
چه بودم نه یم خالی د تا له یاده

زړه مي ډك لکه سیند دی شعله بویه
که د زړه په فراد و کړم څوفریاده

بهانه ددي غرض مگر شانه کړي
ته یې لاس وروړي و زلفو ته شمشاده

چه اواز دي د تیښي په کهسار نشته
د شیرینې په طلب لاړي فرهاده

په اسباب کېږي مي زړه بند په اسباب ندی
د چمن په قید سرو ده آزاده

مهیا ورته قفس د ښاخ د گلو کړه
که څه رحم په بلبل کوي صیاده

چه په هر منزل کېږي سرخوری لکه شمع
د هغه لاري څه نفع ده له زاده

په سختی کله امساك د دولت کیږی
جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده

همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی
چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده
«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب د یار یم هیڅ حاجت د شراب نشته
اور د عشق مي زړه کباب کړ هیڅ حاجت د کباب نشته

تمام تن مي وچ لرگی شو، رگې مي تار دو باندې پرېوت
زیر و بم اواز تري خیژی هیڅ حاجت د رباب نشته

پر پرهار نمکپاشی کړی چه پرسش کړی له ما نه
حال مي خود ورته معلوم دی، هیڅ حاجت د جواب نشته

لکه مرغ نیم بسمل یم، تپش کړم په ځمکه باندي
ځان مي ور کړ ستا په عشق کېږي هیڅ حاجت د قصاب نشته
«خوشحال شهید»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر دا آوازمی غوږ یوست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې یستلم گله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډیر دی　　　ستا د ستر گو مستی بده ده ترمله

ښا یسته د زمانې د نیـا پرست وی　　　په کو څه کښې یې بل مه کښېږده بې بله

په چغلی مې ستا ؛ په یارمینه زیاتیږی　　　څو دې زړه هومره چغلی کوه چغله !

ساقی مې چه را کوی یې په قهقه خانده　　　زړه کړه دا د صراحی لـه قلـقـلـه

د لیدونـکو پـه نظر کښې تفاوت وی　　　او که نه وی خبرجدا نه وی له کـله

په پریشانو اندیښنو خاطر پریشان شی　　　جمعیت هومی خـا طر لـه تو کـلـه !

چه ستامخ ورته حاضروی گـل په گوری　　　دهغه ستر گی دې دخدای نکـا بې گـله

د مجلس روښنائی ته یې ته دی استـیی　　　کوم نقصان دی که صبا کړه ډیوه گـله

دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تیرشه زر عبدالقادره لـد ی پـلـه

«عبدالقادر ختك»

سرو کـه لیده شی د چمن تازه تازه　　　ستاحسن تري وینم ماه من تازه تازه

زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمن نو　　　یا دواړه نافی دی دختن تازه تازه

گوره ستاله مینې زړه یې ټك دی وینې وینې　　　رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه

ساز دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع　　　وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

❀ ❀ ❀

زه اول هم دیوانه وم ، دیوانه یم لا تراوسه　　　له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه

له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم　　　ددلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه

زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بیگانه وم　　　ترخلو ښتو کـالو تیرشوم بیگـانه یم لا تراوسه

چه عاشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم　　　تورو ښنه مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه

چه داخل دیار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم　　　عام وخاص مې وایه ولی نښانه یم لا تراوسه

تل راضی یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلاوم　　　عذر نلرم له حکمه ، بی بهانه یم لا تراوسه

د شیرین دلبر له لاسه ، ماشراب د عشق بی قیاسه　　　څوبې حده مې ډیر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه

دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
پـه ازل مې شراب څښلی دیوانـه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

❀ ❀ ❀

ناست یم ستاله لاسه زړه یا ره سینه افـگـا ره　　　ته له ما نه څه غواړې فلـکه ستمگـا ره

ته یو موش گـیرك یی لایق نه یی د گـلو نـو　　　ولی بـلـبـلان شړې کمبخـته ! له گلزاره !

یار دې له ما بیـل کړ تا خو هیڅ ښادی و نکړه　　　وایه څه دې وکـتل رقیبه دل آزاره !

یو دې د هجران په تنـا ره کښې لو غړن کـړم　　　بل دې درقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو ګل یې خار شي په لمن زما څو څېړي
نه چېنه د وفا طمع کوي له سرو قده
غوڅ وي قلندر په تیغ د هجر کړي نیا زه!

څوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پند ونه
زده مې که نادان په لاس کښومات لکه ښیښه شو
او ښې دبا نوو په سر چه را شي نه در ځېږي
نه شي څوك ساتلی سره بخړی په کر بوان کښې
نه دی چا موندلی ښاپېرۍ په دو شالو کښې

چه صبا یې په هر ګل باندې طواف کا
د پتنګ په دود د ځان په سوو رضا یم
همېشه د ګل په بوی زه شمس الدین ځم
میل نه کا را ته باز د یار د ستر ګو

څوښ له وصله نه شوم د هجر ان له غمه زه
خلق را ته وايي چه زحمت دي لاد وا دی
سر دي په جهان کښې د همه وا ډو ښا دیو
لوس په اه دي ورو سته دخیل یار په غم اخته شم
غم دي له ازله په نصیب د عاشقانو
ما عبدالقادر چه دا غزل د فراق وي

یو غوا ډم له یاره ښه دیدن تا زه تازه
ځکه بلبلان چغار کوي په تازه ګلو
یو زمان له مدحې د د لبرو مه د ر ځېږه
زړه چه در قیب زما په بد سره ښه کېږي
آه کوي له د له په فریاد له زیړ ګلمه
بل فکر مې نه کېږي بی ستا له ګفتګو په
مه کړه په جفا سره ازار د بلبلانو
ستر ګی مې خیره شوي چه ولاړ یې زه دي ګورم
زړه د یونس چوی ستا د هجر له سختۍ

سېر د ګلو نو چه کوم یې له خپل یاره
سرو په هیڅ لیدلی نه وی میوه داره
مه کوه میرا ! نوره جفا درب دپاره !
« قلندر »

وا زه بیفائدی زدی ابا سینه لره بندونه
نه شي څوك ایښو دای وښیښو ته پیوندونه
ندی چا بند کړی په ګیا سره سیندونه
ومې سول پاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلندر ره ! په میرا پسې کندونه
« قلندر »

زه هوس د هغه باغ لرم له شوقه
ځکه مینه پر څراغ لرم له شوقه
په خپل یار پسې سراغ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدین کاکړ»

نه کړم په ګل مینه دخزان له غمه زه
لا به چه بی خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دي شم ښغمه د جانان له غمه زه
ډېر په زړه زهیر شوم دجهان له غمه زه
ځکه ته خلا صېږم یو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

بل در قیبا نو ځا نکندن تازه تازه
نه به مدام ګل وی نه چمن تازه تازه
تل د یار له وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
وا وره له بلبله ښه ګفتن تازه تازه
شیر شکري وایه له دهن تازه تازه
شه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
وکړه په دا لوری آمدن تازه تازه
شه خوبه خپل مهر کړه غمجن تازه تازه
« یونس »

ښه مې ولیدل په سترګو واړه ښکلې — چه تر واړو لا تېرې کا جمال ستا دی
د دنیا په مخ به ډېر وی ښه مخونه — چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستا دی
د واړه زلفې د حلقه کړې لکه لومې — چه دانه دی په دا لومه کښې خال ستا دی
دوړه پښې ګلګونې سرې په د ماغ درومې — ګوره بیا څومره وګړی پایمال ستا دی
ته کشتن د غمزې کړه مه وډ ریږه — مقتولانو قبول کړی وبال ستا دی
که همه د خلقو ښکلې سره ټول شی — خسته زړه مې به ټولی کښې لېوال ستا دی
چه دې څوک په کوڅه تېر شی نورمېن شی — چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستا دی
که مثال د صورت غواړې ګوره میاشت ته — چه پوره د دوه هفتو شی مثال ستا دی
چه صبا بېګا یې لونډ لرم په اوښو — یادګاری را څخه پاتې رومال ستا دی
څو رېبار در سره نه بیایې دوړاندې — چه په چم به یې تېرېږې محال ستا دی
که په قهر یې شړې په لطف یې بولې — چه یې نه پرېږدې په هیڅ کښې خوشحال ستا دی

« خوشحال خټك »

مخ د یار شمس و قمر دری واړه یو دی — قدې سرو صنوبر دری واړه یو دی
حاجت نه لرم په شهد و په شکرو — لب د یار شهد و شکر دری واړه یو دی
که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم — نار و خار و دا بستر دری واړه یو دی
چه ودرا او د یوار ته یې نظر کړم — باغ بوستان او دغه در دری واړه یو دی
چه غبار یې د کوڅې را باندې راشی — دا غبار مشك و عنبر دری واړه یو دی
خدای دې یار له هجره هیڅوك خبر مکړه — تاخت و قتل و دا خبر دری واړه یو دی
هغه دم چه سړی درومی له جهانه — توری خاورې سیم و زر دری واړه یو دی
قلندر که په رښتیا قلندری کا — خان سلطان او قلندر دری واړه یو دی
په دکان د نابیناؤ جوهریانو — خر مهرې لعل و ګوهر دری واړه یو دی
دا پیران دې عار زما له عشقه نکا — پاك عاشق پیر و پدر دری واړه یو دی
په سبب د ظالمانو حاکمانو — ګور او کور و پښور دری واړه یو دی
غزا وشوه که خان ستانی ور ځمان ته — بې هنر و ګاو خر دری واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګېسو د په چندن باندې ښامار دی — توری زلفې دی سنبل د نو بهار دی
توری سترګې دې هوسۍ دی خطا شوی — چه و ځرو ته پرتې په سنبل زار دی
توری وریځې دې لیندې باڼه دې غشی — عاشقان یې زخمی شوی په ګذار دی
مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره — بېدلان یې په سرونو خریدار دی
دغه خال چه دې دوړو څو په پیوند دی — د خطا د ملك اصلی نافې ترې جار دی
سپینه پوزه دې غوټې د زنبق ده — چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی
ښا ګوښ د نسترن دی غوړ بدلی — د چنبې تر ګلو به دواړه رخسار دی
سپینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم — د غنچې غوټې کله شکر بار دی
دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو — سپین غاښونه بې بها در شهوار دی

ښایسته زنه د سیب د سمرقند دی — چه خوږه یی تر ښاتو نه بسیار دی
صراحی د سپینو ورو سپینه غاړه — سیم اسا اوږدې دې هم په دغه شمار دی
واړه تن دې د حلب تر ښیښې صاف دی — چه را زونه دد رون تري نمودار دی
سپینې لیچې دې ښکلې مصري توري — چه خو نونه یی په غاړه سل هزار دی
د یاقوتو نیګینې دې سره نوکونه — ځای په ځای دې په اوږو باندې قرار دی
چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه — هغه کلك به لذت ډك خوازه انار دی
د نامه غوټی دې ګل ده د ګلابو — کینږ اوښی د ګلو پاڼې پرې انبار دی
د نامه ښکته دم و هلی نه شم — هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
د پنډو تر صفت دې نه ز سپېږم — ولې سپینې په سپینو الی تر چنار دی
سپینې پښې دې د زنبق د ګلو پاڼې — دیښو ګوتې دې ګلونه د انار دی
تمام قد دې په مثال د صنوبر ونه — در پسې یی سم په مثل د چنار دی
سر تر پایه ننداره یی ځان دې جوړ کړ — تر تاجار واړه را نمی د هند و بار دی
ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو — د لو یيا دانه یوه مټر خروار دی
نه خو ده پر مهر کوی عمر دې ډېر ښه — دخوشحال خټك دې تش لیدل په کار دی

« خوشحال خټك »

عاشقی را باندې سوری کړې مری — هیڅ مې نه د رومی بې باره تر مری
څه اثر به یی د عقل وی په سر کښې — د هغو په سر چه کښېنې ښاپېری
د مژګانو په پنجه مې زړه وکاږی — خدای د تر کو مستې ستر ګې کړې مرزی
علوفه به یی بېغمه نور څه نه وی — هر چه کاندې دخو بانو چاکری
لږ د صبر سبق ما لره هم را کړی — که په عشق کښې څوك دغه طاقت لری
خدای به څه دې د کوتوال په لاس کښې ور کړم — شپه او ورځ مې غږ وی لکه توری
په صورت مې نری تبه شوه ولاړه — تاچه دواړه ستر ګې تورې کړې نری
د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم — چه بند ی شوم د هجران په کچری
نور د شمعی په فانوس کله پټېږی — تاچه وا غوستې دخیال جامې نری
زه رحمان په زړه نری کړم هغه جونو — چه یی ملاوې د وېښته په دود نری

« عبدا لرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی — بیابه تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی
چه زړه سوی یی د حرم په صید هم نشی — دا بیدرده بیصرفې ګزار دچا دی
ما خو نه دی څوك پیو جهی ازار کړی — دا چه ما ازار وی ازار د چا دی
چه یی درست جهان د مخ په رڼا ز یست کا — دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی
چه بلبل یی رسید ی تر ګلو نه شی — دا د ننه په حرم ګلزار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لری رحمانه — دا نا ترس او بی پروا ګزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یی سر خم دی — یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
که دې مخ په زلفو پټ دی باك یی نشته — د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی
ستا له زلفو له رخساره له سره شونډو — پیدا شوی شام، شفق او صبحدم دی
په دهن کښې دې غاښو نه تجلی کا — یا غوټی چه په غنچه کښې د شبنم دی

نه چه اوس زما زړه غوښ ستا په غمزو دی
بې ژړا چاته نه ګوري سیاچشمه
راحت ندی چا موندلی بې زحمته
ستا د حسن د تعریف له بر کښته

چاره، غوښې له قدیم سره په غم دی
د نرګسو غوړیده د جوی په نم دی
ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
د رحمان د شعر کوکې په عالم دی
«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پر نګ بدیم ښکلیه! عارولی له ما کړي
یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه!
ګل دي په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه
ولی له شیدا بلبلې مخ جار باسی ګله!
لاخوشبویی ورکا چه یې واچوی واورته
ته د حسن نمر یې دانور ښکلی لکه ستوری

چاري د قسمت دی، زه یې زشت ته یې زیبا کړي
ای د صبا باده! چه بیا نغښتی غنچې واکړي
سرې دې له فراقه لاله ستر ګې بړندا کړي
ته په دا خوبی هم دده نارو رسوا کړي
زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ګل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې
«عبدالقادر خټك»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانی
قدر د بلبل چه پاتی نه شو په ګلزار کښې
سپینو ستر ګو د ر راوښو واړل په خاورو
هر ساعت چه دمه کا سنګار د یارد زلفو
هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو
تل مې لیونی عوندی څوك نه پرهېزدی وګورته
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه
مر ګ د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی

خورم شراب د مینې د کې د کې پیمانې
جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
نه یې وساتلې په پښه کښې د ر دانې
وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې
ور کې شه بیخایه د پښتون د پرې ستانې
ځای رالره نشته یې د یار له استانې
څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
شپه ورځ بې تړلی دی په ګوتو نښانې
«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی
اوس له ویرې په کوڅه ورتللی نه شم
غم و ښکلې توري راغی که مې پرهېزدی
ما بېګا شپه د یار مخ لید لکه شمعه
دا مطیع په سحر څکه څکه ژاړی

د زړه رخت مې په عشق رنګ لیدلی دی
ما د مستو ستر ګو جنګ لیدلی دی
ما خلاصی د ستا ترځنګ لیدلی دی
دا خیل ځان مې پری پتنګ لیدلی دی
چه خپل حال یې دهر بد رنګ لیدلی دی
«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګ لري کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یارته وایم
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننګ دی
خدای په دواړو کونو هغه ړوند په تورلیمه کړه
یار مې په شړل ندی راضی زه یې پرې بوهېږم
بس کړه ای ناصحه! تورځیګر را باندې مه خوره
بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه

تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګ لري کوی
ګله سپی غماز له یاره څنګ لري کوی
ځکه هر ملنګ له ځانه ننګ لري کوی
څوك چه ستا له شمعې ما پتنګ لري کوی
سپی غماز له دره ما په جنګ لري کوی
ګله مست ښکې له ځانه ښکې لري کوی
عشق بوهېسې رنګ دی چه بل رنګ لري کوی
«مطیع الله پیرخیل»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب رادرومه
ځم د یار په اوری په هواهوس خوشې کړم
هر څوك چه طلب کا پته نه د دا خبره

گوره دایه ځان خونی تورمارلره وردرومی
چېری هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومی
ذوق کاندې بلبلې چه گلذار لره وردرومی
هر کله مطلوب و طلبگار لره وردرومی
«خوشحال ختك»

خوږې شونډې دې شکرې ندی څه دی
چه تسخیر په تورو سترگو کا د زړونو
چه د زلفو په زنځیر یې زړی بند کړل
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه

ښکلی غابن دې مرغلرې ندی څه دی
سیه چشمې سحر گرې ندی څه دی
هوسی سترگې زړو رورې ندی څه دی
ښېښتنې په قامت سترې ندی څه دی
ستا د مخ په دور لرې ندی څه دی
«خوشحال ختك»

یار په ستمونو د خیل یار نه زهیر پېږی
څو کبر لو یې ده و خوبانو خدای ورکړی
څه شو که ترې سله ځله ځار پېږی په ساعت کښې
ښه رنگ یې بدرنگ کاچه پری والوزی پوخته
گرانې دی هر گوره نوې چارې نو آموزته
زردی چه خبر په شی د سترو له احواله
سرغواړه له خدایه خولی دېری دی فاضله

سترگې د ښو په درانه بارانه زهیر پېږی
هیچېری یې زړه په عاشق خوارانه زهیر پېږی
گل د بلبلانو په چغارنه زهیر پېږی
زړه د خزان گوره په بهار نه زهیر پېږی
هرچه مدام مې خوری په خمارنه زهیر پېږی
هرچه د وېښتلو په آزار نه زهیر پېږی
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر پېږی
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هموی دی
عالم وایې عاشق شوې زه سوگند خورمه چه کله
کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړه
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کېږدی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیار ښتیاخبرو
شیخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا
که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې

سجود که روشن کړم که داعیب دی هموی دی
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هموی دی
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هموی دی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هموی دی
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هموی دی
په مخ یې مېرهن کړم که داعیب دی هموی دی
مستی یې به دیدن کړم که داعیب دی هموی دی
«خوشحال ختك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
اندرون گو گل می درست دو ېنو ډك شو
بیا دې نوی بر ها رو نه په ما روغ کړه
په ژوندون یې څه احسان را سره نکړه
زه دې درست له باغه وا پستم د لبره
تو رو زلفو دې خو شبو په کړه ملکو نه
خماری سترگې دې د واړه شنه زمری دی

زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
ظالم هری جامې اغو ستې سپینې سپینې
لرغونی مې لا روغ ندی ځینې ځینې
څه پکار دی که یې کړی په مرینې مرینې
تورزاغان پکښې مېوی خوری خوږینې خوږینې
د واړه گلو ښتی دی دمنگو چینې چینې
د خوا جه محمد و مرگ ته وږینې وږینې
خوا جه محمد بنگښ »

نه به شوك بی نا چا ری و طن پر ېښې دی — نه به روح هر گز په خو ښه بدن پر ېښې دی
که ستا مخ يو ز لی و و يني په ستر گو — بت پر ست به نور سجود دو شن پر ېښې دی
د يو سف غوندې به خو ځنی پير ون کا — که د زني چا ته ز لفې رسن پر ېښې دی
که دې وليد ی سرې شو نډ ی جو هر يا نو — په يا قوت پسی به تله د يمن پر ېښې دی
که د لبر په دا ښا يست لاړ شی چمن ته — د خو لئی د عو ی به گل دچمن پر ېښې دی

« کا مگار »

چه يوه گړۍ په جمع زړه ښه مخ وته و گورې ! — که درسته دنيا ستاشی هم څه نده دا تر پورې
داخوی زماقديم دی څه ماوس ندی راوړی — چه بی دزيبا مخه راته خس دی چار ې نورې
د خلقو تهمت يوسر دجهان غم نه بل سر — هم ته به مې لاهسې رنگه سختی بلا ژ غورې !
دا اور چه په مابل دی دخپل يار له جدا ئی — نه گرم نه ملامت يم که تل وينې ژاړم تورې
اشنا ته وايه نشی نا اشنا به څه خبر يږي — دا راز چه لامانه دی او ريد لی خپلې مورې
ناوك يې دمژگانو دابرو په کمال جوړ کړ — خدای زده چه به دچا ترزړ گی وزی پورې وورې
ښه باز دې دخوشحال خټك خاطر په لا سو کبوت
په قد ری خبر شه چېر ې نه په لنبزی پلو رې !

« خوشحال خټك »

شنه خا لو نه چه د پاسه پر جبين ږ دې — دا زما پر زړه دا غونه آ تشين ږدې
د عشق اور مې و بلوی د زړ گی شمع — بېهوده مې پر موم نقش دنگين زدې
مادې خيال ا ر ه فرش کړی تور لېمه دی — ته بی نيا زه قدم ولې پر ز مين ږدې
په شپه حال د مهجورانو په ياد را وړه — په راحت چه سر له نازه پربالين ږدې

« پير محمد کاکړ »

❀ ❀ ❀

## ه : موضوع گانې

### (۱) ـ مخ :

بادې لاس په پلو کښېږدی سره ريښ دی — گل بی مخ وته نظر کا خوله پرېښې دی

« خوشحال خټك »

دپريې ښکلی جوه مايدلی دی په ستر گو — ړوند شم که به تا غوندې په حسن ښه وه
زور دغاښو مکړه مخ يی صاف تر آئينې دی — زخم به پرې وشی په ورو ورويی ښکلوه
عمر به يې لنډ شی که ئې تاردزلفو کم شی — فهم کړه اې ډمی ! زمنځ ورو وروچلو ه

« عبدالقادر خټك »

اې چه په مخ و ړ ې خو ئې له ور ده — خالی پو د م نه يم د ستا له در ده
ته بی آ سيبه بهی ، سيب او سی — که تر نا ر نج مې خپر ده زر ده

« عبدالقادر خټك »

که مخ دې نمر کړم دنمر کړه وړه نشته — که يې سنبل کړم سنبل مشکين ندی

«عبدالقادر خټك»

دپر هوس لرم د ا ستا د مخ و گل ته — زه بلبل پرې الوته کړم که بد نه وړې

«شمس الدين کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو
تور دې زلفې غلافونه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا یه خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ
که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
چه یې ولیدو دا ستا جوهر د غاښو
پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
له حیا دی غټ و مخ ته کتی نشم
کله لید په خوږو سترگو شی د نمر مخ
« قلندر »

دا دې یار خو دی خو له نیو لی
که لاله گل دی پر خپې وهلی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه
که لعل و در دی سره پېیلی
«خوشحال ختک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کا ته موړ نشوم
نور به څو پردې نا بوده دنیا ویا ړم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه!
په درست باغ کښې یو نسرین هسې لرې!
«خوشحال ختک»

مخ وته یې گوره چه په مخ لری خاوانه
څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال ختک»

## (۲) شونډې او ژبه:

د خولې ویل دې و اړه نبات دی
خوا ږه دې لا د کنځلو زباد دی
څوك یې چه ښکل کا سیخ د هغو دی
شونډې دې دوا ړه آب حیات دی
«خوشحال ختک»

بوی به ستا د محبت څخه روان شی
که یاره مې د نافی به دود ډېر کړې
په ناز کو شونډو بار د پانو مه ږده
خدای چه شونډې سری بی پانو درته در کړې
«عبدالقادر ختک»

غنچه خوله چه یې نقطه موهومه ده
څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم اوبه دی
دواړه زیست کا په یو ځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»

که څوك و وینی د استاذ نخ پر آب
زړه یې و وزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم
په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډی چه ځائی د پانو سرې دی
هغه شونډې څه حاجت لری د پان ته
«خوشحال ختک»

چه په خیال د سرو لبو د شپې خملم
هر سحر شا څی ځما تر بستر و یښی
«عبدالله پوپلزی»

(۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
ځوك مایوس ځوك په امید دیار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مینې سر گرم

گویا اخلی د یا غیانو فلنگو نه
ځوك پراته غا لړه غړئی په پالنگو نه
د غر څه غوندې په هسې کړ سکو نه
«خوشحال خټك»

چه د یدن دمین و کړ مه تازه شم
په ارمان د هغه و خت یم دریغه دریغه

لکه ګښت چه په باران سره اوبه شی
که د زنې سبب یې بیا زما په خوله شی
«خوشحال خټك»

ځوك‌چه زور — ه‌ښکاره کا وزیاتیږی

که پخیله بوسه را کا زور به نشی
«خوشحال خټك»

مګر تا سره سامان د سلطنت دی

چه په هود مې سپینه خوله غوا لړې ختکه
«خوشحال خټك»

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی

نور مې ګل له د له هر د ی تلذذ
«خوشحال خټك»

سر به در کړم مچه را کړه ښه سودا ده

که یې ته په بها پیرې زه یې پلورم
«خوشحال خټك»

په رښتیا رما ته و وایه طبیبه!
سپینه خوله که بې ریباره وزپیشکش کړم

چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال خټك»

دادی هغه‌اوچه په‌هجران کښې یسی ته‌مرې

اوس یې په‌وصال کښې دوا لړه اوریه ښکلوه
«خوشحال خټك»

دصبا باده! گزر په چمن بیا کړه
زه خوشحال کمزوری نه‌یم چه به ډار کړم

په چمن کښې رنگا رنگ گلونه وا کړه
په شکار نارې وهم چه خوله یې را کړه
«خوشحال خټك»

زړه مې تخمخ کیږی دسپین‌مخ وښکلول ته
زه چه‌ځنې‌سوال دبوسې‌و کړم راته خاندی

لاس یې لر بر کیږی دزلفینو ونیول ته
یا به زړه راضی ده یا پروانه کاوین ته
«مطیع‌الله پیرخیل»

چه یې تل دمخ ثنا وایی خوشحال له

په صله مې سپینه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټك»

دبوسې وعده دایم صبا برات کا

زړه به څو کاندې تازه په‌دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

بیا حانث په سپینه خوله شوم د خو بانو

قسمونه مې نا صح گڼل عبث
«میا نعیم متی‌زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه

په خو زو یی د حلوا نشته غرض
« یونس »

که هر ار لحله شیخی کوی خو شحاله

که‌ښه‌ښکلی درنژدی شی نو یې ښکل کړه
«خوشحال خټك»

## ٤ ـ سترگی :

مست د هغه مخ یم چه مخموری اری سترگي
هسی پري غوځیږم وایی توري لری سترگي

یارمي په ښایست کښي بی نظیره بی ماندی
لا په درست صورت کښي د پرمشهوری لری سترگي

ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته
ځکه ستا له مخه هوري دوري لري سترگي

هرچیرته چه ته یی هغه اورته می نظر دی
هرچرته چه زانی شاهین هوري لري سترگي
« خوشحال ختك »

ما یی خیال لره ابلق د سترگو زین کړ
قدم نښ دی په رکاب زما د سترگو
« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی می د ښو کړه تري چاپیره
گوندي خیال دیار په سترگو کښي حصار کړم
« عبدالقادر ختك »

ځکه ما دعشق په تېر ځان شهید کړ
چه مي نه رسی د صبر په کفن لاس
مرگئ دژوند زما پوښته له مړاؤ سترگو
په رسا گذار یو هیښی د تور زن لاس
« عبدالحمید مهمند »

کښی وروځی کوزبانه چه دي را یاد شی
کازه غشی مي تر زړه لوېږی آزاد
« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تېري ستا
پري به غوځ شی هرچه کاندي ننداري
« میا نعیم متی زی »

باز دیار دسترگو دمږ گانو په پنجو کښي
دی لکه تنزری په چنگ و ړی زما روح
« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو سترگو په تعریف کښي
نه د کمه شاعری له اجتهاده
« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري سترگي خدای خونی کړي
گنه خون کله کولی شی بیمار
« عبدالرحمان مهمند »

خپلو سترگو فتوی در کړه چه مي وژ ني
حیرانی ده پر دا لو ستو د مکتب ستا
و کوثر ته حاجت نه لری د ښېلو
چه جام نوش کا څوك دمیو لبالب ستا
« مرزا حنان »

زړه مي رم خوری له سینی پر خبر نه یم
دا د سترگو باز مي بیا راځی وښکار نه
« مرزا حنان »

یل یی په جهان کښي مو ندی نشی
عاشق تله د یار په لوری په لیمه کا
« عبدالقادر ختك »

بی د یار له مړاوو سترگو چه کج گوری
گنه نکا رنځورا چاته جواب سخت
څوك د صبر ارام نه غواړی په عشق
د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت
« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و دشت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا
« پیر محمد کاکړ »

روهي گلونه (٥٢٥) ـ سردار محمد ، ح سراج الدين ، ر فتح محمد ، ن محمد نعيم ، ه اجرانه پښتو ټولنه ١١ـ١٠ ـ ٥٢٥ ع

## ۵- غاښ

په آرزو د سپينې خولې يې په بوستان کښې — نرگس پياس پر سر نيولي دی پيالـه
چه يې وليد . خندا د سپينو غاښو — لـه شبنمه لمن د ښکه کړه . لالـه
« شمس الدين کاکړ »

په رڼا د سپينو غاښو يې خرم وم — وا قف نشوم د هجران د شب لـه دا چه
« پير محمد کاکړ »

## ٦- غوز اوپوزه :

در په غوز کښې د مهرو هسې زيب کا — لکه بر ښنى په سحا ر کښې ستا ر ه
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو زا نگى په غوز کښې — کوا کب کا په اسمان لرزان حبيب
« ميا نعيم متى زى »

چه له غوز وئى مقصو د مو مى لښتى ده — چه له پوزې يې مراد مومى لونگ د ی
« خوشحال خټك »

سپينه پوز ه د ی غوټۍ د زنبق د ه — چه چاپير ترې نور گلونه د گلذار دی
« خوشحال خټك »

## ۷- خال :

مخ وته يې گوره چه په مخ لرى خالونه — ته عجب زيبا د ی لکه گل د پيغمبر
« خوشحال خټك »

زه حيران د استاد ورځو په نور خال يم — کافر څه رنگ سجده کاندې په محراب کښې
گل د ډېرې بار يکۍ په شبنم خوړ شي — نازك زړونه بد وي په صاف جواب کښې
« عبدالرحمان مهمند »

مشکين خال دې په سروليو هسې زيب کا — لکه مهر يـه مخو ن د د ر مرجا نو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه ار به شنې کا — زړه مې شين شوستا دشنه خال لهلاجورده
« شمس الدين کاکړ »

چه ز خال و خط خبر ی يکښې نه وی — د عشا قو يـکـلـار د ا ترا نه نه د ه
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبين ز د ي — دا زما په زړه دا غونه آ تشين ز دي
« پير محمد کاکړ »

شينکى خال د وروځو منځ د مهر و يانو — هم محراب دی ؛ هم منبر دی هم خطيب
« ميا نعيم متى زى »

زړه مي ځکه په سل ژبو گفتگو ی کړی
چه شانه وهی په زلفو د نگار لاس
« عبدالله پوپلزی »

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم
خدای دې نه کا حال کمان کفر د چا
« میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې
زر عو نه کړه تر سنبل او سره گلاب
« میا نعیم متی زی »

زانگی ایکښې زړو نه د عاشقو سره په ویښو
نه چه چیری کېږدی سره گلونه په اور بل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره
چه په څه ښاني تاویږی وایمان نه
« خوشحال ختك »

که څوك وايي چه مار کله په کټ خیږی
زه خو ورځ لیم په کټ د زلفو مار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لکه شانه شم پری نه یی نږدم
که د تورو زلفو تار په لاس را کښیوت
« مرزا حنان »

توری زلفی دی په لیچو باندی زانگی
ښامار ان دی دچندڼو په ښاخو نه
« خوشحال ختك »

دار بل په هر یو تار یی زړو نه بند دی
مشاطه و ر باندی نور یسی په تارو
« خوشحال ختك »

که دد یدن حج اکبر کوی تلو ار راو که
چه پر سپین مخ باندی د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخند زاده »

## ۸- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندی
په زړه خو له لگوی مار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ستا په مخ بی څنمو وهم مېن دی
پېرو دمه د وز نه کښیښنو د اتم په څه
« عبدالرحمان مهمند »

د ک می د نسه لر مون په اور ځو
چه ستا د تورو زلفو په رنگ دی
زړه سمند ر دی پکښی یی کور شو
له بخته خو بې یم چه بخت می تور شو
« عبدالقادر ختك »

په لیده یی پېچ وتاب شم نه پو هیږم
تر حلقو د زلفو مخ نی معلو میږی
څه بلاده د شوخ چشمو په کا کل کښ
که گلاب را ته ښکاره شو په سنبل کښ
« مرزا حنان »

زه مېن په هغه زلفو په رخسار شوم
چه سنبل ورته خجل دی گلاب هم لا
« پیر محمد کاکړ »

خو دیه خو دی کله زلفی په مخ زانگی
واړه زهر دی چه ځوزی په تور مار کښی
« پیر محمد کاکړ »

خيال د زلفو يې د زړه نه جدا کيږي
د کيمې پورې پښکته شي تور حجاب
« عبد الله يو پلزي »

## ۹ـ خندا:

په بار بار د خندا منت را باندې
چه په ما دې نظر وشو په خندا شوې
« خوشحال خټک »

کله کله په خپل قهر کښې مسيږي
لکه خوک چه هندو بار کښې ديداري کا
« شمس الدين کاکړ »

تبسم يې له دشنا مه سره زيب کا
قدر زيات لري ترخه چه شي شراب
« ميرزا حنان »

## ۱۰ـ لاس:

د اغيما د قاتل لاس دي نه يو هيږم
که تر باغ و تللي لاس دي د سرو ګلو
« عبد الرحمان مهمند »

کوم دلبري زړه په سرو منګو لوټوي
چه لاسونه د وينو د کښ دي د حنا
« شمس الدين کاکړ »

سره نو کاڼ دي د سرو ګلو په څير زيب کا
د واړه لاس چه دي رنګ کړي په حنا
« پير محمد کاکړ »

## ۱۱ـ حسن:

ته په دا حسن د ګل غوندي پيدا ايې
پورې مور که ښا پيرۍ يې راوړي
« خوشحال خټک »

زه رحمان د هغه حسن ثنا خوان يم
چه جر ګه دعا شقانو وي پر پند ه
« عبدالرحمان مهمند »

ستا د حسن د آفتاب له ګرمه خوي په
لکه ګل په ښمن يت تازه شبنم ودم
« شمس الدين کاکړ »

پوځکښې مخې د ښند هار د کښيلو نښته
کښلې د کشمير که دلا هو رو د کابل
زړه د شمس الدين په حساب سره دري ځاي کړ
يو طرف دي تيک شو بل دي نته بل چار ګل
« شمس الدين کاکړ »

خو برو نيې دلبرۍ څه په کار نده
لکه ونه بې ميوې په بانو پورې
« عبدالرحمان مهمند »

توري زلفې ښته خالونه سره رخسار
ښشه طوطيان دي سره ګلونه تور ښامار
« يونس »

## ۱۲ـ جامه او ګانه:

ارغواني جامې يې واغوستې رحمانه
بيايې جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
« عبدالرحمان مهمند »

د عقيق د آب په رنګ يې تن معلوم دي
هر ه ورخ چه جامه واغوندې ګلنار
« مرزا حنان »

نور د شمعې په فانوس کښله پټيږي
تا چه واغوستې د خيال جامې سرې
« عبدالرحمن مهمند »

درسته‌دي له‌خیل غریبو واښتم خوشاله    یودغاړي هارمی د ګلونو مه‌شلوه
« خو شحا ل خټك »

### وښې

دا هلال دی چه‌لیدل‌شی په‌شفق کښې    که‌په‌لاس د ګل‌اندامی سپین‌وښی دی
« عبدا لر حما ن مهمند »

## ۱۳- عیش، اودعشرت‌سامان:

دنیادار کړه چه نه‌وی ښې دلبرې    اوردې پورې ددنیا په‌ملك ومال‌شی
ارمان دادې چه به زه همیشه نه‌وم    همیشه به‌سره ګلونه کال په کال‌شی
د ګلونو وخت تېرېږی ساقی! ګرم بی    که دجام په د کولو دي اهمال شی
« خو شحال خټك »

❀ ❀ ❀

ساقی ! یورنه شه‌دمیو جام تیار کړه    عمرهیڅ معطلی نه کوی تلوار کړه
که‌غمخوارغواړې په‌غم اوپه‌اندوه کښې    ښینه د که د شرا بو اختیا ر کړ ه
هغه‌څوك دی‌چه‌تهمت پرې وایه‌نه‌شی    غو ز په‌هیڅ‌پا ندې‌مه‌باسه‌خیل کار کړه
« عبدالرحمن مهمند »

❀ ❀ ❀

غنچه‌غنچه‌وه شراب‌ساقی! بیابه‌ارمان کړې    عندلیب ناری وهی چه‌بهار درومی
« عبدالقادر خټك »

❀ ❀ ❀

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوړه    دشرابو سره نقل دخولې مل کړه
« خو شحا ل خټك »

### رباب

په‌آواز مې‌بی دزړه پرهار ګانه‌شی    مېن ځکه د رباب په ز یرو بم یم
« عبدالقادر خټك »

له مزینه زړه مې نرم اواز څېړی    ځکه‌خوښ لګه‌رباب په‌زیروبم یم
« عبد ا لقا د ر خټك »

باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وا ی    رودوسرو دو نقلو شر ا ب وای
ښې ښې محبو بې ښه ښه احباب وای    خو بی د عمر وخت د شباب وی
« خو شحا ل خټك »

### شراب

زمایار په‌خوب ویده دی چه‌ویښ نه‌شی    په‌پیاله کښې ساقی! می‌تر یوه‌ورو
« عبد القا در خټك »

ګله ! ته چه د بلبلی مخ جار باسې    مګر ستا په‌خیل‌ښا یست امیدمدام‌دی
نور چه تل د کې پیالې تشوی ښه‌دی    په‌یوه‌پیاله خوشحال‌خټك بدنام‌دی
« خو شحا ل خټك »

دا گلگون شراب د کومې میخانې دی　　چه صوفي يې په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه　　د بلبلو په اواز کښې داسروش دی
« خوشحال خټك »

د رحمان شراب له عشقه　　نه انگور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوې راسته ناسته　　زنگاری کمیس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو　　وینم یکښې هردم د خوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږی　　معطل مه کوه ساقي! په داد وصل شه
« عبدالقادر خټك »

یو نفس دیاد پیاله له لاسه مه ږده　　دا شراب حقیقی نه لری خمار هیڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی　　چه یې سی کتازی له انگوره
« شیخ دولت »

ای ساقي د جام په ور کړه مستی مکړه　　کاشکې بو هم پاتې نشی هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

گیج رنا د نمر خپره شوه　　زما پر کور د وېر تاره شوه
د بیلتون ورځ تورة تیاره شوه　　غېږ شونا څا په چه بیلتون راغی
ز ډه مې له دې ویر نې سین دی　　په ژړا ژاړم څه ما ورین دی
زرغون له او ښو مې سا دین دی　　په نول نولېږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیایم نه به بیا راشی　　نه به تیاره شپه زما رنا شی
نه به ښه شي را ته بخلا شی　　بیلېږي پېر یې اوس دیون راغی

❀ ❀ ❀

د ښښتن یار دی هیر مو نکړی　　آ غلیه مخ چه په یا نه کړي
اور بل دې پر ښو وی وا ته کړي　　په ما دبل اور کړوون راغی

« دا شعر دشیخ تمین بن کاکړ دی چه، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

وېر مې زړه سوری سوری کړ　　را ته وگوره ملو کې ! !
په بیلتون کښې دې وباسم　　له خوږ مینه زړه گی کوکی
را ته وگوره ملو کې !
را ته وگوره ملو کې !

د بلبلتون او رونه بل دی — هر گړی می زړه گی سوځی
لبو نی یمه د مینی ! — سوځم زه لکه پیلوځی
راته و گوره ملو کی !
راته و گوره ملو کی !

غوړو لی دی اور بل دی — اور زما په زړه گی بل دی
زه د بختیار خاوری ایری شوم — په اور سوی می گو گل دی
راته و گوره ملو کی !
راته و گوره ملو کی !

❀ ❀ ❀ — « قطب الدین بختیار »
« متوفی : ۶۳۳ ه »

جدائی دما په زړه کا هغه چاری — لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد وبله بیل شی — خدای یی څه شکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښي د گو گل په جوش پیدادی — لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا له شسته خیژی — زمانه دخوشحال زړه ورته امـاج کا
« خوشحال ختك »

که داستا ستر گي راوجا ربا سم ځانته — له بنیادی په یی نور شا کرم وجهان ته
یوزمان مي که داستالیدل نصیب شی — نور به ستر گي پورته نکړم گلستان ته
طبیبان دخیل دارو درسره کښېږدی — تا و یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندي تیر یږی ستا په عشق کښي — خدای دي هسي حال پیښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه دهر ژادم — دوا ده ستر گي مي پیغور کا و یاران ته
« خوشحال ختك »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم — لکه نی یم وهر چاته په فغان کړ
« پیر محمد کا کړ »

دفراق په درد کښي شوق د بوسي څه کړم — خوز شربت په حال دمر گ د بیمار نښلی
« پیر محمد کا کړ »

مونږ له هواده تنها راغلی یو — دبڼ طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندي مکړه — دښو یارانو فراق نتلی یو
« پیر محمد کا کړ »

دسحر چرگه خوږ شي په کومی — چه تا ناري کړي دلبر مي دروسی
یوسي دلبر ځی بل رانه زړه وړی — زړه مي بدا وړی چه دلبر نومی
« اخوند گدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی — په هر چاوره شه بیوخته میلمانه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ — په دریاب کښي نشته نمونځ په تیمانه
« شمس الدین کا کړ »

وخت دنوبهار دی زه جدا له خپله یاره — دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځی بهاره!
ژاړی غاړي غرونه په احوال دعاشقانو — سیل د اورونو دی چه را درومی له کهساره

اوردخوزو زړودی چه‌دغره په‌ونوبل شو
سری ډډوزی خېژی له نښتره له چیناره

غوالړی چه‌احوال‌دفراق چنودرمعلوم‌شی
گوره هغه زانه‌ي چه جدائی نحی له قطاره

نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی
راشه که بی اوري در باب له هره تاره

رنځ‌مي نه کمېږی‌په‌زمان زمان‌زیاتېږی
زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره

مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو
خدای‌زو‌به‌هنگام‌دوصل کېږی دادوه کاره

څه‌شو که لادم‌وهی په شماردی دژوندیو
رنځ چه‌لا دو اشی طمع پر ېکړ ه له بیماره

هسې‌خوار‌وزار‌شوم‌ز‌خوشحال‌په‌عاشقکېږي
خیل دی که پردی دی راته‌نه گوری له هاره

« خوشحال ختك »

چه‌په‌وخت‌دتلوراتلو کاچیغار و نه
دهوا دیاران را یاد زانه‌ی اکثر کا

« عبد القا در ختك »

که هر څو دبېلتانه له غمه وا یم
خپل‌ژوندون‌مي دروغجن کاندي‌چه‌یایم

په‌قد کوز په‌تن‌ضعیف گوښه یولی
په مثال لکه ا بر و د دلر بـا یـم

« عبد القا در ختك »

له ښکیه وچاوده وخت دصبا شو
په هر مسجد کښې ا ذ ا ن ادا شو

راشه‌چه‌ښکل‌دي کړم‌اوس‌په‌بېلېږو
په ځا ن ز مو نږ ه صبـا بـلا شو

« عبد ا لقا در ختك »

مین را یاد شو دا ستا له رنگه
که یو د رنگ کښېني زما تر څنگه

که اشنا نه‌بی داشنا مثال لري
ځا ر شم قر با ن شم تر تا ملنگه !

« عبد القا در ختك »

وخت د سحر شو پر یوتې تلې
له کښیه لو ر یه ر ا و ختلې

د یار د راغلو وعده شوه تېره
په ډېر ککتل مي ستر گي و تلې

« عبدالقا در ختك »

د منې و خت ؤ و نې لېـد لې
یو څو بلبلي چه ژړ ېد لي

خواري خسته وي وي‌مي سزاي
چه بی گلو نو و یا ښېـد لې

« عبدالقا در ختك »

ورلي‌دهجرپرما شرط‌مکړه په‌عشقکښې
ز هر چا خو ړ لی ند ی په شرطو نه

« شمس الدين کاکړ »

دزړه‌وینې‌مې په کومه‌درشتې‌خورې
هغه شونډي چه په شهدوشکر خوږ شی

بېلتانه‌می‌هډوپوست‌هسې‌وچ کلک‌کړه
دیار لاس می په وهل دخنجر خوږ شی

« شمس الدين کاکړ »

د هند بـا ر ا نه آ هسته و وره !
یار مسافر دی د ر بسره بی ژ خو ره

د سا یی گل ؤ په نا ز لو ی شو ی
و تلی نه دی هر گز لـه کـو ر ه

« شمس الدين کاکړ »

د هجرا ن له ډېره غمه ولې نه مرم
له دې هسې رنگه ماتمه ولې نه مرم

چه یو یار له بله یاره جدا کېږ ی
د د ې د هر له ستمه و لې نه مر م

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
له دې هسې صبحدمه و لې نه ... م

چه په لنږه گرمی شا کاندي وگل ته
ه دې بېو فا شبنمه و لې نه مر م
« عبدالر حما ن مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه په شپه د جدائی
در سته شپه بخو به دا مان ستوری شمېری
« خو شحا ل ختك »

## کاغذ

مخ یې سپین ورق خالونه توری په کاغذ
سرو مال په ښا عا شقان یلوری په کاغذ
دادی تما ما د محبت کمال طور و نه
یار له جدا ئی چه یار ژ غوری په کاغذ
ته که نه رادرومې گاهی گاهی په خطیار کړه
نیم ملا قا ت و ینم ستا له لوری په کاغذ
مه کوه ناترسه د جفا ستم را باندې
کله کله یاد کړه خپل غمخوری په کاغذ
وران به هر گز نه شی کښلی توری له ازله
هرزمانی که ستر گې د چا اوری په کاغذ
ستوری د طا لع هم له جبینه معلو مېږ ی
څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
مه گوره بې خط قلندره د یا ر مخ ته
بې تورو نه بېږی چه څوك گوری په کاغذ
« قلند ر »

## ۱٦ — ژړا

ته گریوان می د سپوږمی د نمر مشرق شی
زه چه یار په ستر گو نه وینم تورتم وی
درحمان خندا په اجر دژړا ده
تازگی د گل په قدر دشبنم وی
« عبدا لرحمان مهمند »

ناخبر به ی له حاله شفق بولی
که دوینو په ژړاو کړم اسمان دوب
«عبدالر حمان مهمند»

بې دردان ئې لاس سرخې دشفق بولی
که په وینو کړم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدین کاکړ »

زه دشمعې په څېر ژاړم تر صباحه
ته د صبح په شان خاندې له غروره
« شمس الدین کاکړ »

له ژړامې شوه تازه دزړه داغونه
لکه تل چه شبنم اوری پر وښو
حما دیار په زړه کښ جوروستم نشته
در وی ئې سپې رقیب را ته پرېښو
« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دېمنې نشا نه ده
بلبلانو پر ي لوولی گواهی ده
که فریاد په زوره نکړم زړه مې چوی
که په زوره ناري کړ مه رسوائی ده
« مطیع الله پیر خیل »

هرسحر ستر گې د گل له اوښود کی
په دا باغ کښ ئې ژړاو خندا نشته
« عبدالقادرختك »

روهی گلونه ( ۵۲۵ ) ب : سردار محمد ؛ ج محمد علی خان ؛ ر عبدالغنی ؛ ن رجب علی ؛ ه اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ۷ - ۱۱ - ۳۲۵ ع

۱۷ ـ او ښکي :

څه اثر به زما او ښي په تا کاندي
لا تازه شي اور په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره او ښکي مې بهېږي په رخسار
چه غرقاب مې هم گرېوان دی هم کنار

په گرېوان مې تل داوښو باران وری
نه ورکېږي درحمان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند

خدای پیدا کړم لکه او ښکې په ماتم کښې
څکه برخه مې ژړا شوه له الستـه
« شمس الدین کاکړ »

یا کوم ستر گی به او ښو دیار مخ ته
ناروا دی په قران وهل خپـن لاس
« مطیع الله پیرخیل »

په نااولی مخ دیدن دښکلو نشی
چه خواوند نشی د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »

له حسرته خپلو او ښکو برسر یودم
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »

دا ورك زړه غوارم پهاو ښویسي څغلم
زخمی ښکار په بسمل دوینو پیدا کیږی
« مرزا حنان »

۱۸ ـ غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
له زگېروی نهمي نور خلق پهعذاب شوه
زه دستا پهغم کښې شمعي غوندي ژاړم
زړهمي ستا په اوری هسی او ېژان دی
مادي ستا دانـد ښېنو یه غم کښې سوي
داد ستور دی چه لوی غم یه سرې ورشی
هرچه ما یه نصیحت له تا جار باسی
سره لمبه گوره چه څه کا په وچ د کی

هسي زه یمه دیار په غم تا زه
ستر گی وخورم که نې وچي کړملـه نمه .
زه به څه کړم دچا چارې بی دیاره
دیار نوی نوی غم زېږوی و صل
کهدي زړه لهغمه وچوی دلگیر مهشه
ښایستهیاران گلونه دی رحمانه !

چه مي ځای شی نه دننه نه د باندي
تل دوچو له کبله سوزی تاندي
ته زما یه غم کښې صبح غرندي خاندي
لکه زلفي دي یه مخ دی او ېزا ندي
ددنیا انـد ښنی واړه لکه سپاندي
نور غمونه ئې همه شی تر پښولا ندي
بیا دي ستا په اوری دروم یله ماوراندي
مخ دیار یه رحمان هسي چاري کاندي
« عبدالرحمان مهمند »
لکه وی هره گیاه په نسم تازه
که مې شی په دا ژړا صنم تازه
هر سړی دی پخپل سا یه دم تازه
رغوی سوی پر هر مر هم تازه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
بیلتا نه کړه اکثر مړا وی کسم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم د بختورو له خاطره
قسمت هسې له ښادليو کناره کړم
« عبدالقا در ختك »

تل مطيع الله ځکه سرور په دود نه مي کا
دا مشهور متل دی فرياد غم پر ښادا نوی
« مطيع الله پير خيل »

غم ديار مي په خاطر کښې محکم بيا موند
په کعبه کښې مي صياد د حرم بيا موند
« پير محمد کاکړ »

جای نشين وغم ته تل په انتظار کښې
د کالا پا نه ی بند ی يم د انګريز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسو س کاد زړه له داغه
پر چمن نه دی خاطر فراغه
کفن ئې رنګين کړ د زړه په وينو
په ار مان ويست خزان له باغه
« شمس الدين کاکړ »

ګوتې چه پر نبض زماز دی هغه پري سوځی
ځکه مي حيران شوو علاج و ته طبيت
« پير محمد کاکړ »

## ۱۹ ـ رقيب :

سپې رقيب ئې کښېنولی دی په مخکښې
هرڅوك زدی کوډی په مخکښې د باڼېز
« شمس الدين کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
ګڼه زه څوك اشنا ئې د زور ورڅوك
بې هنره سپې رقيب هلته څه غوښت
که ويارته رسيدای شوی په هنر څوك
« شمس الدين کاکړ »

د رقيب وسرته وزی تېزی ناست يم
پري برئې نږدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مانبول د رقيب ناز کړ ستا دپاره
سوداوزيان پدا جهان کښې خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

## ۲۰ ـ جفا :

ستاد عشق حرفو نه تور نه دی ګلګون دی
هم په داچه نو شته په جګرخون دی
تش به نه شي هغه خم د عشق له ميو
چه ئې خاوري د فرهاد و د مجنون دی
د دنيا چاري همه وا ړه فانی دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له نه دی
چه په سره کفن له مځکې را بېرون دی
در جمان د زړه خوناب مګر قبول شو
چه مخونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خو بانو چه کوم دوفا طمعه
کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

ن مي پياله تور وستر ګو سره جنګه دی
پر لبانو ئې د زړه د وينو رنګه دی
که پر هکري سر په لاس ورلره راشم
لا په دائې باور نشی زړه ئې سنګه دی
« تيمور شاه ابدالی »

## ج : بديعي تشبيه ګاني

خوله دې ګل غنچه ده تور ګيسو دې سنبل پاڼې      ښې دې دي دزر کې سپينه غاړه دې دزانې
شونډې دې ژوندون ښې به سترګو کړې خونه      ژبه دې شکرې ده د ننسه په زړه پانې
هيڅ پرې نه پوهيږم دا دې زنه که مڼه ده      خال دې دی په زنه که دانه ده د مما نې
« خوشحال خټک »

کنده ولې د دواړو سترګو ستا په طمعه      وهر لور ته مې نيولي کور په کور دی
چه مې خيال د ترکوو ليد و په زړه کښې      د واړه کسې مې و زړه و ته نسکور دی
« عبد الرحمان مهمند »

مايه خواست وزاری خوله له ياره غوښته      ده په ناز لکه غنچه سره و نغښته
شه خو حال زما ترغوږه د يار ورو ړه      چه مدام کا پرتا خواب د ناز با لښته
محبوبا پر پالنګ وا و ښته په خوب کښې      که هو سئې ده د بهار پر ګلو ر غښته
ثمره د بد فرزند ښکنځل د پلار دی      پيدا مشه نا خلف د چا له پښته
« شمس الدين کاکړ »

چه له غنګه د ګلرخ مې اغيار کښېناست      په چشمانو کښې مې ګل عوندې خار کښېناست
« پير محمد کاکړ »

آهو چشم پر سبزه د چمن رام شو      يا پر تخت د زمرد شهريار کښېناست
« پير محمد کاکړ »

که عشاق جنګ وجدل کا باندې څه شوه      پر ګلزار وی د بلبلو شر و شور
« پير محمد کاکړ »

کوم يه له دوه ؤښه دی سپين رخسار که چنبيل ګل      کوم يه له دوه ؤښه دی تور ګيسو که سنبل ګل
« پير محمد کاکړ »

پر سينه د ګلبدن ګريوان پاره شو      د غنچې له چاکه رنګ د ګل ښکاره شو
« پير محمد کاکړ »

دا تور خط راغی پر مخ د ګلعذار      که غالب شوه په کشمير باندې کفار
« شمس الدين کاکړ »

چه مې ستا د مينې داغ په خاطر يوړ      زړ غونه به مې لاله شي له تربته
« ميانعيم متی زی »

ميانعيم ناست دی ستا دغاړې الېلونه شماری      پکښې پراته دی هزاران زړونه بلبلې صنم
« ميانعيم متی زی »

ګوتې تورې کړې په بای کړې دا پورې      زه حيران يم ستا د سپينو ګوتو تور ته
« خواجه محمد بنګښ »

زه دريسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع      ته صبا خندان لکه ګل واز ګريوان دچاپی
« عليخان خټک »

یون ئې د تندرو ، دریده ئې دی د سرو　　پېر کوی په پلو کښې حمله ئې د سپاره ده
« علیخان ختك »

تماشا چه زه د خپل دا غو نو تل کړم　　هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د گلرخ په هوا در ستـه شپه ر فتن کړم　　د شبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور ځم
« شمس الدین کاکړ »

او ښې در ، ر نـگ گهر با ز ډه لکه لعل　　جنس مې ډېر ولې رونق د بازارته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیال ته مې خالی کړ د زړه غولی　　مېلما نه لره تیار شی سرای د ستور دی
« مرزا حنان »

چه دې خیال په خاطر را شی مضطرب شم　　لکه پېش چه د مفلس کره مېما ن شی
« مرزا حنان »

چه تاو و پېښم تازه غزل انشا کړم　　پری بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی
« خوشحال ختك »

پر خپل ځای با ندې ولاړ یم لکه شمع　　ترفزل پوري رفتار کړم لکه شمع
« شمس الدین کاکړ »

وخت دی راغی دفدا که فدا کېـږی　　شمعه پلـه شوه تازه پتنگه خوځه !
« جمعه بار گزی »

آفرین دي پـه ولو ول تورو سنبلو　　چه ئې ځای د پا سه وېښو پـه گلو
« خوشحال ختك »

## قبیح او ملیح

که یو ځل ئې په سرور باندې کښېښې　　رنځ د هجر به شی د فع د بیمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوږ نه شی　　د بانو په ستنې ستاد یو ندې خار
« شمس الدین کاکړ »

# دویم باب ــ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ١ ـ اخلاق

که درنګ خوبی ئې ستایې بودېې نشته
په جهان کښې که باقی دې خو اخلاق دی
« خوشحال خټك »

په خو یونو کښې ډېر فرق دی
که سړی پر ې خبردار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا
چه خپل هم ځینې و بېزار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا
چه پر دی ئې خند متګار شی
که څوك خپل خصلت ښه کا
تر سرو زرو به ډېر و پر بدار شی
« خوشحال خټك »

ثنا د ګل شی له ښکلیه بویه
صفت د مرد شی له نیکه خویه
اهل به نه کا ستا ینه هیچیری
د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر خټك »

چه ګل همت ئې خوراك لباس وی
په تحقیق هغه ار ذال الناس وی
شرف په خوی دی په دیانت دی
که څوك شریف وی یا څوك کناس وی
« عبدالقادر خټك »

په ښه خوی د سړی قدر قیمت کېږی
بد خصلت سړی یا دیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وی ځنې تښته !
بې هنر سړی که وګورې لاشی دی
« خوشحال خټك »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږی
په بد خوی باندې خپل واړه شی سوا
« قلندر اپریدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه دځان کړل
نور د ګل په څېری پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

د ښه خوی ګټه ده ډېره
له ګڼلو ترانند تېره
هغه څوك چه اخلاقی وی
د هغه نوم به باقی وی
که دچا اخلاق ښه نه وی
د هغه به ژوند ښه نه وی
د اسلام دین دی راغلی
پیغمبر دی پا څېدلی
چه پوره کی ښه اخلاق
او پر ځای کی دا میثاق
په خویو انسان انسان دی
که نه وی خوئش حیوان دی
مکارم انسانیت دی
رذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پرې سره ځمکه سره پنډه شي
په نسب که خان ، نواب قاضي قضات وي

لکه کښت لره باران اوباد په کار دي

٢ ـ په ځان باور « او » همت :
چه فلك سره سر باسي
کړه ئې ندي بې حکمته

رب دې مه کړه د اخلاقو پله سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزي په کنجله
« احمد ګل اسلمي »

د عالم تولې په خلق په احسان شي
« خوشحال خټك »

په همت کښې هغه زه يم
زه خوشحال دده په کړه يم
« خوشحال خټك »

په تېرو تورو ور دروي يکسر ننګيان
په له بو باندې ځان ولي پښتنګان !
د کنجکو قدر يو ، د در ويل دی
ننګيالو سره څه ژوی بې ننګان
ار تګي د زړه دليل د جنتي ده
د دوزخ داور لايق دي دلتنګان
د باد شاه په سلطنت پوري خندا کا
په سپېر و ايرو لړ لي ملنګان !
نور ماهي ئې تار په تار دروي له مخې
ما توی لو اې بېړۍ نهنګان
دهاتي دپاسه سپور ورته پيکه وي
چه د مېو پيالې آخلي سر هنګان
څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرهار ژاړي پلنګان
« خوشحال خټك »

چه په غوښو ئې روزګار هغه زمري يم
نه چه ولې ئې خوراك هغه مېږك يم
که عالم راته ګل تا وکاغم مې نشته
په رښتيا ويل د دېرو پو ليو لك يم
په دانش په شعور نده په همت ده
چه دا هسې سرګردان لکه پښتك يم
هر پښتون چه د مغولو نوکري کا
که دی زر ، د هغو وادو بهترك يم
چه منصب مې د مغل خود يو ملك وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك يم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك يم
نه مې کار په خاص وعام نه په ديوان دی
نه په درو لاړ د هر يوه مردك يم
نه تصديق شته نه يادداشت شته نه توجيه شته
نه په فکر د سند نه د دستك يم
هر ګيدی به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه د سر يا توره يا کوتك يم
پښتانه لره شړی انديښر مې بس دی
نه په فکر د مسندنه د توشك يم
آزادي ده په ساده سپينه جامه کښې
خلاص د غمه د زر بفت اود ميلك يم
د وښو جونګړې هسې راته ښې شوې
وايې ناست په محلونو د آهك يم
که او ګره د بتو شته په شړو مېو سپينه
د مغولو پولاو پاتې دېر برې دك يم
چه نيولی مې داهود دننګې ونام دی
که له خپلو هوده وا ودم کنيزك يم
په بل غشي توپك هيڅ ويشتلی نه يم
که ويشتلی يم خو بيا په خپل توپك يم
چه شهپر مې بتې خپل وو کنډ کيرشول
پرواد ار په لنډو پرونو دبارك يم
د کريز بڼې مې توئې لکه باز کړې
ګمان مه مکره چه بې پرو ښا پيرك يم
تف په زيره د همه وا دو بسار کو
لا زما په زيره هم که زه بارك يم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم د ی    زه خو بیا دسبا کې، انا خشتك یم
نن خو قام‌را سره ډېره جفا و کړه    کانده بیا د خدای وحکم و ته خلك یم
که څه حق یا دنیکی یا دوروری شته    و یا داش وته په طمع د هر یك یم
مهمندی زما د کړی لاس او پښې دی    راضی من دافرید یو یه کو مك یم
دېر چینی چه تراوش و کا دریاب شی    چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم
کر لانی څړ بنی خو چه پښتانه دی    زه د ننګی په کار دواړو مشترك یم
که مې عمر په شماره تر شپیته تېر دی    لا په کار د سواری، لکه از بك یم
د افغان په ننګ مې وتړله توره    ننګیالی دزمانې خوشحال ختك یم
« خوشحال ختك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تیشه د فرهاد شوه ده    تر هغه چه نا هموار لکه خارا یم
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم    خوش په طور د ممك بې دست وپا یم
« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس‌وخاشاك په‌خپل گردن نزده    حو صله دې په مثال د لوی دریا کړه
« کاظم خان شیدا »

راته یو د ی بحرو بر    که څه سمه وی که غر
په همت به ئې تسخیر کړم    په شا ها نه شا ن وفر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه    دون همت اندېښه مکړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری په‌خوله کښې ور کا    خدای‌دې نه کا چه‌عارف پکښې غارت‌شی
« خوشحال ختك »

څه‌هغه شهباز شه‌چه دې‌ځای په سردرو وی    نه لکه د کلی کارغه گرزه غم دښ کړه
« خوشحال ختك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله    که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی
« خوشحال ختك »

سردې دروملی‌مال دې دروملی پت دنه ځی    د سړی د چارې کل خو بی په پت ده
چه‌یې خدای ور کاو چاشکرد کاندې‌ندې    په جها ن کښې لو یه بخره د همت ده
« خو شحال ختك »

علم تا پیائی په پورته جهل تا بیائی په ښکته    یا‌عیسی اره وردرو مه یاقا رون ته‌ځان‌سپاره
د نباتو حلوامه‌خوره چه‌منت‌ورسره مل‌وی    خپل کشکاب‌دخپل‌محنت خوره‌په‌سرراوده‌پشتاره
« خوشحال ختك »

❀ ❀ ❀

هغه ژ یست چه د عز ت له مخه‌نه وی    چه‌یې کا په هغه ژیست پورې هك پك یم
اوریې پوری په منصب په نو کری شه    چه تر فهم و تر نظر د مغل ککې یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل نام ونګ چه را شم لېونی شم — خبر دار کله په سود او زیان دلګی یم
چه په طمع د اوږ و ز غلی و شست ته ! — ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمک یم
تر قضا پورې د هیڅا چاره نشته ! — او کنه تر زاړه ذئب لا زیرک یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی — نه چه ګرځي ګونګټ نیسی باد خوړ کي یم

« خوشحال ختک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سیند ته
آفرین دې په همت شیدا ختکه

« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په خو غره په غره دباز غوندې پرواز کا — بیا به وا نی د خوشحال ختک پرنشته

« خوشحال ختک »

ساقي جام د میو مه پر ښږ ده له لا سه — خو د عقل خه زده وی لا به مست کښي
دې بلند همت کښي پورته پورته درومي — ښکته ښکته ځي سړي په پست همت کښي

« خوشحال ختک »

چه همت د سړی خو قدر ی هومره — د تمیز په تله هر سړی تا له شي
د و لتمن سړی هغه بلبلی بویه — چه له سینده نی جدا د چا واله شي

« خوشحال ختک »

نوره پښتونخوا په ځای میشته ده — خو یو زه دی زمانی په کښي منصور کړم
که یی درست ده تو زور راته ښکاره کړه — نه به بیا په قوم کښی کښېنم نه به هور کړم
عجب مار می جار و تلی تر دوه پښو دی — مګر لوی پاچو پیداشی چه یه دور کړم
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کښېږی — بویه دا چه ځان فلك وته تر بور کړم
په خپل اه مي باور شته اثر به وکا ! — رقیبان به او رلړ و نی د تنور کړم
یو دوه سړی مارمی پروت په دواړو پښو دی — په دیدن یی له نشاطه نه نفور کړم

« خوشحال ختک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه — چه محتاج د خیاط نه شی پیر هن ته

« کاظم خان شیدا »

د بیا ښی دباز نصیب شوی تازه غو ښی — دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کنندی

« مطیع الله »

وزی تېزی پروت په خپل پوز کی شه نی — نه په تخت دپا سه ناست دبل کره
دمنت پو لا و د ي زهر شه که نی مومي — د محنت سوی سکرك د ساګ سره

« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی به لوی دریاب کښی ګرزه — په بیله کښی دی زوال ویښم نهنګه
عاقبت به ککری ور بانه دی کښېږ دي — تر خراغ چه کښې و ښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پالنګ را سره نشته — دا هم شکر چه نی بوی ځی له پالنګه
دعمزي په تیغ نی خوږ شه نی خوشحا له — مرنی په روغ صورت نه ځی له جنګه

« خوشحال ختک »

که غوټۍ پسې وهي په لاس به در شي
که د جنګ په کار کښې ډېر دي حکمتونه
څه عجب پادشاهي لکه خور شید کړم
د همت دا رو که مړ م په کار مې نه دی

را شه ګوره نامردان بلا و هلې
د آسمان د پاسه ګنبت نندارې ګاه
مړ هغه چه ئې نوم نه يې نښان شته
خوک په خپل پښې کړل کا د اغزي و
پسینه کړنه هو مره فا ئیده نه کا
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی

بنسیا د د چارې په مصلحت دی
چه سره یو شی دا دولت ئو که

مردان هغه دي چه همت ناک شوی
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض ګڼي

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو ګرزم
چه په وازه خوله مونده شي مه يې وینم

که دمځکې غونډې کوز په تواضع یم

چه همت دې د ټیوس دی ځان بازه کړه

هر سړی په موافق دخپل همت نظر لرینه

مردان هغه دي چه همتناک وي
چه غم پېرې را شي پروا دغم نه کا

چه په شان د آفتاب ندی ګرم رو یه

چه همت مې نه کا ډېر په هسکو او
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته

چاوی دا چه په دریاب کښې ګوهر نشته
خو صبا پسې نشي ز لمبه ظفر نشته
یکه تنها په جهان ګرزم لشکر نشته
که علاج لره مې را شي مسیحا هم
« خوشحال خټک »

د پېرې میدان پېر پېرز دی لوې تې زغلی
کوز د ځمکې د تلی په مینځ کښې هلی
تل تر تله په ژوندون پیائی بیا غلی
چا په خپل پښې ګډو نه دی کړ لی
چه په وخت کړ نه و کا پر آ خلی
رنج و ګنج سره دا دواړه دی تړ لی
« خوشحال خټک »

بیا د مړ د انو په بنه همت دی
واړه دولت دی حرمت عزت دی
« خوشحال خټک »

دننګ په کار کښې چست و چالاک وی
په زړه هم پاک وی په خوله هم پاک وی
« خوشحال خټک »

څه منت به دد و نا تو د دینار کړم
که صدف غوندي حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه
« عبدالقادر »

په ورد و چار و هیڅ کله کاته نکاندی لوی چاری
« عبدالقادر »

په هره چار کښې چست و چالاک وی
خوازه له هر چا په زیست وژواک وی
« خوشحال خټک »

ستا په سر کې په سایه دهما خوښ یم
« کاظم خان شیدا »

لکه موج نکړه بیم له پر ټو تلو
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
په زړه بار لکه شبنم پر دوش د ګلو
« کاظم خان شیدا »

۳ ـ امید :

د شپې ښېتن دي سحر ته ګوره ی
هیڅوك د ی طمع امید پرې نه کا

له مقصوده نا امید مشه پـکـلـختـه

دادستور دی چه شپه و لوېږی په څنګه

په ژوندون به لکه شمع دلسرد نه شم

هر ګره ګره کشا لری نیکبخته

٤ عزم اوتوکل :

دهوشیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې څرخ خوری پروایی نکړم

نه رسی تر یاره هرچه دیرې اندیښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده دبلبلو
دزړه راز و چاته ووایم حیران یم
توکلت علی الله و ینا یو ه ده

په پرېشانو اندیښنو خاطر پرېشان شی

۵ ـ جد وجهد :

په طلب کښی دي سستی ویلم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دی په هر لوری
څو طلب هومره موندل دی په دادور
د عملو خوازه کله هغه موومی !

غشی چه دیر ولی بیه تیر انداز شی
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه دبل غوښې خوری مردار دی
دذړې په خیر دلمر په طالب ګرځه
کار په تش لستونی نشی بې دلاسه
چه تقوی د یانت نلری ر حما نه

ګوندی پسرې و خپږی د صبا ستو ر ی
با ر ا ن په تېز و کښېتو نـو او ر ی
« خوشحال خټك »

خدای په څنګه کـامرغونه د هوا پېښ
« عبدالحمید مهمند »

په شتاب ور پسې صبحدم را ځی
« عبدالحمید مهمند »

چه تر مرګ پورې زما جانګزاری ده
« کـاظم خان شیدا »

نا امید له خدایه غو تـه جبین مـه شـه
« عبدالرحمان مهمند »

خود څمکې د آسمان په مینځ کښی وت دی
د هر هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټك

نوری کیسې پرېږده دعشق په تو کل هسې
«خوشحال خټك»
اوس په ده کښی د بلبلو آواز نشته
په هر اوری چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزمانې سره ساز نشته
«خوشحال خټك»
جمعیت مومی خا طر له تو کله
«عبدالقادر خټك»

چه و تلی پی ددې خونې له ویشه
په غښتونی با ندې ندہ جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومی بېشه
چه حذر کـا د مچی له بده نیشه
« خوشحال خټك »
چه مشق دخط کړی وخط ته سازشی
ودو، ورو، په هر هنر ممتا ز شی
«خوشحال خټك»
ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تیزه هسی پروت په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلی منگولی نه کا کېلی — هومره نهوی څړبې غوښې ورته ملي
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا — چه قبول کاندی د بحر خوني چلي
عاشقان چه ترس تیرشی هله ښکار کا — د ابرو پستي خولي لکه ځلي
بازچه والوزی له جالې هله گوری — د کبکانو ښایسته سترگی کجلي
چه داور بخری یاد سره رفیق شی — بیا ماله کا په ملکو نو لمبې بلي
چه سیلاب دغره دسره نه روان شی — بیا هاله بیابی په مخ دبری خځلي
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصیل پسی یی ځکه کوښښ بویه — خپل هنر لهلاسه مه پرېږده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه توده ترخه قبول لکه دریاب کا — هم هغه د قیمتی د ر و ماب شه
چه لمبه یی دآتش کړه په ځان تېره — اوغه پسه دگلا بو گل گلاب شه
د کمال کسب پا په دسعا دت ده — هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه
ته هم زده مراد وغواړه له عمله — چه په علم یی عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال خټک»

ښادی عم غوندې آسانه موندنه شی — سور په خیلو وینو لعل دبدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندوهله خه حاصل کاندي چه گرزی — یو زمان قراری مکړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا بازار مو ند لی ندی — له انگاره چا گلزار موندلی ندی
تلوار مکړه په خپل وار به برخه در شی — بی لهواره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شی پسی پاسه — له گفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیرخیل»

کار کوه کار په کار هم کاردی — تاوان په ځان باندې خالی گفتاردی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی — گو تره گوبګه طوطا طرار دی
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندي — عمل هم ورك شو په مځکه باندي
او س په خبره بیرول و بل دی — دا بیت بازی دی عالم یی کا ندی
«عبدالقادر خټک»

کله به‌لا دروهی له‌های دسحر خوبه — خوب بیغمه نه کا چه په مځکښی یی منزل دی
«عبدالقادر خټک»

چه منت په ځان قبول کا نو راحت شی — چه عارف د مصیبت شی عافیت شی
«خوشحال خټک»

## ٦ — صبر او استقلال :

غشی چه د بز ولی ښه تیر انداز شی — چه مشق دخط کړی و خط ته ساز شی
کار د محنت دی د مشقت دی — ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتاز شی
« خوشحال خټک »

مړ تېي د هر چا نندی سره سمې  دخرد بار د فيل په شا باندې مثقال دی
نه چه لافې د مردانو د ميدان کړی  په ميدان دی کوم راوړی استقلال دی
که همه خلق يې سنز شه پخندانه  بيچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال ختك »

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی  چه شم پرې راشی پکښې خوشحال نه دی
مرد دی يې هيڅ ده و زما په بوهه  که بې په جاه ودوات ثوك سيال نه وی
« خوشحال ختك »

اضطراب به دې خلاص نه کاله خدا.  مستقل و ر نه په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر ختك »

په تاکه را شی خدا ته لو يه  تېښته تسليم صبر ته بوه
ته به يې دفع په صبرو کړی  نه په لښکر و په زر او زو ړه
« خوشحالی ختك »

صبرو نيسه په څکښ که مراد غواړی  هيڅ کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

ای حنانه صبر و کړه مراد به مومی  د فلك ژر نده به وا رده پس ، پېش
« مرزا حنن »

خلاص به نه شي سرکشان له گوشمالی  چه فلك په جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شيدا »

دا نا يې مه گڼه چه صبر نه لري  چه صبر نه لری حکمت به څه لری
سړی دصبر به کار کښي و زمبه !  چه صبر ناك وی هر څه به شه لری
« خوشحال ختك »

صبر ناکو سره جور فلك نه کا  د فلك جور د چا چه سبکسار و
« خوشحال ختك »

ژوندی که گرځی خان يې ژوندی دی  تو ر زن دسر به وينو لړ لی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی  ظفر له صبره سره تړ لی دی
« خوشحال ختك »

شورش مکړه د گردون له کش مکشه  اومه کلکه کا مرغی له اضطرا به
« اشرف خا ن هجری »

۷ـ د وخت اهميت :

دو باره دې را تله نشته په د نيا  نن دې وار دی که دروغ کړی که رښتيا
هرچار چه تروخت تېره شی عنقاشی  عنقانه نيلی په دام کښي د هيچا
تر ورخ تېری او به بېرته نه جاروزی  نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بيا
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی  مړی چاری ژو ندی کړی نه ژدا
هره نېغه چه صحيح گڼه به زړه کښ  په غرور به هغه نېغه کړی خطا
په عمل د نيکو بدو فهم و کړه  چه به دا کښي دې بهبو د دی که بېدا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت په مه وی

که د پوره سعیه کوښښ کړی څه شی
که هر څو مې په بېړی ملاح کا

آبشاره ! و لې دا همې ژاړې !
که تل فریاد کړې به کانې سره هې !

کړل دې ویل دې دواړه اوان لری
چه کار د ښو ورځې پر پېړدې صباته

۸ - زړه

شه سړی پردی په دلاسا په نیکې خپل کا

یو زړه د خوشحال ندی چه جهان یکښې ایده شی

دواړه ځکو نه لکه تن دی
زړه یې چون او پیچکو دی

خودې زړه خاندی خوله دې خندا کا
مدار دهری چارې په زړه دی

دا زړه کډلو اطلو ار مشکل دی
... هم یې نشته گنډول یې هم لا

... سو ځه په اور کښې شراب وښه

که هزار ځله تقرير په هر اگاری کړې

قلب د دمومن گوره ملقب په عرش الله دی

چه د زړه ... دنیا خلو ... پروا وی

و گوری وایه کاروانه خپل کا
خو کټ چه آرام گټی د شکو نام گټی

د هغه عالمو ز پرې د و شکو دی
« عبدالرحمان مهمند »
په وخت چه نکړی بی و خته څه شی
په ژانگی چه کښېوزی پورې هاله شی
« عبد القادر خټك »
له چا فریاد کړې خوك بسې غوا ړی
بیا به ر ا نشی آو به نچه لا ړی
« عبدا لقادر خټك »
چه وخت بی تېر شی افسوس ار مان لری
هو ښیار به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال خټك »

کومه شاغلتیاده چه خوك بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال خټك »
د هر چا زړه مر آت دی صفائی ورله بویه
« خوشحال خټك »
کار د تن جوړوی زړه
خوك دا غم شه گڼی زړه
« خوشحال خټك »
چه زړه دې ژاړی ستر گی ژړا کا
زړه دی مفتی دی هره فتوې کا
« خوشحال خټك »
په دا به یوه شی هر چه عاقل دی
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »
در ته وایم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »
شه دې شته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتك »
زار داز از جو یو چه د زړه په بازار بلوسی
« دالیوری حافظ »
ترو که زړه د سړی بوسی څه یکار
« عبدالرحمن مهمند »
مردان هغه دی چه کار د یل کا
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
« خوشحال خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه سره سم دی و اده مړ و نه ؛ — نه سره سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه گڼه چه اکـه غرشی — کـه پـا ندی راشی هزار غمو نه
«خوشحال خټک»

مرهم پـه زړه‌زده پـه‌یر هـارونـه — دا نیا په گـل کړی نـادان خارونـه»
پـه هره سوړه لاسونـه مـه منده — پـکښ‌پـه خوب کـا خونی مـارونـه
« خوشحال خټک »

زړه دی دهر چا سره صفـا وی — پـه‌چـا گرم مـه‌شه کـه‌دی رضـاوی
کـه‌خوک‌ کـئ نـاحقه اتا پرخاش کـا — اند وه ئی مـکـړه ظفر بـه ستاوی
«خوشحال خټک»

په بدن کښې دزړه اهمیت

زړه په مثل د پـا د شاه دی — هـر انـدام د ده سپا دی
ټول د ده فـرمـان بردار دی — دی پـا دار دوی خدمتگـار دی
کل اعضا یی مسخر دی — د ده حکـم تـه مضطر دی
په فرمـان یی خـولـه ویل کړی — لا س نیول ، سترگی کتل کړی
په بدن کښې گـوشت پـاره ده — چه کـو چنو ټی یی چـشـه ده
چه وی راست شی راست بدن شی — چه فـاسد شی فـاسد تن شـی
پس چه شو صلا ح فسا د: — تمـا می پـه زړه بنیـا د
تـه مد ام اصلا ح دزړه کړه — پـه هیڅ و خت غفلت مـکړه
زړه پـه مـثل گـنجینه ده — د گـو هر و خز ینه ده
دپر پـکښې دی جو ا هر — قیمتی نـفیـس نـا د ر
اول عقل نـه گـو هر دی — د جمله نعمتو سـر دی
بل گو هر یی معر فت د ی — ز یـات تر نو ر و په قیمت دی
نور علمو نـه حکـمتو نه — وا ړه د ی لوی نعمتو نـه
چه زړه هسې خز ا نـه ده — د گو هر و گنجینه د ه
پس لاز م یی د ه سا تنه — لـه جمله ؤ غلو ر هز نه
چه دښمن یی تـا لا نه کـا — جو ا هر یی یغمـا نه کـا
«حبیب الله کـاکړ»

چه‌غرقاب‌شی نورمژگان پـه‌نم‌دزړه — نورخراب شی خانمان پـه دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبوالهو س تـه — چه‌پوهېږی هلکـان پـه غم دزړه
په بل مخ باندي سوا د یا ر له مخه — مـا ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یی‌عرش اوکرسی لاندی‌ترقدم‌دی — بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کـعبې ا کـعبه ده اوبه — که‌آباد کـاخوك ويران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ز دی په مخکه — مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامـکـان‌چه‌دآسمان مخکی‌ترمیان‌دی — پو خلوت دی دامکـان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چـا غوادم بی‌یاره — چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدان دیر دی په دنیا کښی — ولې نه موسی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

همیشه په ځای د شکر شکایت کړې!
منکر پېږې په عطا د سبحان ولې!
درښتلي خدای د هري چه رې توان دی
په ډېر توان کښې خپل ځان بولې ناتوان ولې!
زړه د نفس په پیروی در ښخه لاړو
د خبیث په لاس دې ورکړو قرآن ولې!
« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره!
خو یو مه کړه آزرده د مسلمان زړه
«عبدالقادر»

مړه دل دې له تقره زړه بیرون کا
یو ساعت په کور کښې نه پرېږدي څوک مړي
جمعیت چه له دنیا په نیا غواړي
هغه غړي په معنا د شګو پړی
«عبدالقادر»

هر څوک چه یو کا زړه څوله خپل دواړه
دویم په نیت شی ثابت له واره
که کمې ورغی په دین د نیا کښې
تاوان یې واړه وزما په غاړه
«عبدالقادر»

هغه چه ستا دی چه یې سائل نکړې
ویره مې کېږي چه یې د بل نکړې
که دادې خوی دی دادې خصلت دی
خپل به پردي کړې پردي په خپل نکړې
«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا سره کېږي
سره کړه دعا ګټه دعا قبلېږي
ازار د هیچا دا خستو نه دي
ښېرې د خوږ زړو نو لګېږي
«خوشحال ختک»

لټو مه ګنج د زړه په ویرانه کښې
پروا نلرم د شهر په عسس
«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښې یو وار بسې ولاړ نې
لکه چیرته لښکر دروی د سلطان دوست
« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بدخشان دی
بیا مشکل دی رغول د شکسته ؤ
« خواجه محمد بنګښی »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی
چه پراخ تر هر کشور دی هغه زړه دی
مکرم په مخلوقاتو کښې انسان دی
په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یې مه بوله بې حده مشرف دی
چه د خدای پاندې نظر دی هغه زړه دی
دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی
چه مدام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یې صفت وکړم څه به وکړم
چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بې حده عالي شان دی
چه تر ډېر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی دریاب دی
چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی
څه سیالي به نیشکر ور سره کاندي
چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

دا د خولې په وبل حکم دقاضي دی          چه مقبول دخدای په در دی هغه زړه دی
چه ظاهر وباطن دواړه یوې رو بیان دی          چه دا همسي بلند لمر دی هغه زړه دی
هیڅ اشیا یې لد فتره بیرون نه دی          چه د درست جهان دفتر دی هغه زړه دی
زه نبی به یې نن کم هر بیان کړم          چه منبع د هر هنر دی هغه زړه دی
« عبدالنبی »

دلجوئي په دي تمام وګړی و کړی          که نه هم د د لجوئي په جستجو ی شی
« قلندر »

داپند له مانه په زړه کښې یاد کړه          خو دي لاس د سخی مروت د اد کړه
زړو نه د هر چا په احسان ښاد کړه .          آز اد بنده کړه بنده آز اد کړه
« عبدالقادر خټک »

۹ ــ ژبه

قولا دی تو ره وی که اویه تبه !          تر دا لا بده ده بد ګویه ژبه !
ډېر یې بلا به د ر خخه وا و ړ ی          ژبه که بده کړي د پند طا لبه !
« خوشحال خټک »

بېواك چه نه لري په کام کښې ژبه          که ګنګک شی ښه دی په لویه تبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهان ځی          ایمان لا هم ځی و اوره طا لبه !
« خوشحال خټک »

خوږه مړی ده که خو ږه ژ به !          چه خولا یري خپل کړی زما صاحبه
